# محسن

## د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

## ۹۷

# د «قدر» سورت تفسیر

په پښتو


ژباړه او څېړنه :

احمد حسین «عنایت»

د قدر سورت تشريح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسين «عنايت»

بسم الله الرحمن الرحيم
د لوراند او لورين الله په نامه
سورةالقدر

## د قدر سورت (۹۷)

د «قدر» سورت مکي دی (۵) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې (۹۷) په نزول کې (۲۵) سورت دی د «عبس» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.
ددې سورت په مکي او مدني والي کې د مخکينيو تر منځ اختلاف دی، ځينو له مخکينيو لکه ابو حيان په البحرالمحيط کې دعوه کړې چې د ا سورت مدني دی علي بن احمد الواحدي په خپل تفسير کې ليکلي چې دا سورت لومړنی سورت دی چې په مدينه کې نازل شوی دی ـ خو ددې پر خلاف الماوردی وايي چې د اهل علم د اکثريت په نزد، دا مکي دی، او دا خبره امام سيوطي په اتقان کې تائيد او غبرګه کړې ده. ابن مردويه له ابن عباس(رض)، ابن زبير(رض) او له حضرت عائشې(رض) څخه نقل کړی چې دا سورت په مکه کې نازل شوی دی. د سورت پر مضمون له غور کولو سره هم دا محسوسيږي چې دا سورت ښايي په مکه کې نازل شوی وي.

### له مخکيني سورت اړيکه او د سورت موضوع:

د تلاوت په لړ کې له دې څخه مخکينی سورت «علق » دی يعنې د «قدر» سورت په «علق» سورت پسې په قرآن کې ځای پر ځای شوی دی. په دې سورت کې هم لکه د مخکيني سورت په څېر خبره، د وحي په اړه ده. او ددغو دواړو سورتونو اړيکه او پيوند ډېرطبيعي دی او يو په بل پسې پرله پسې راتلل يې د هاغو آيتونو له پوهېدو او فهم سره مرسته کوي چې د حرا په غار کې پر پيغمبر اکرم (ص) نازل شوي دي.

د «قدر» د سورت اړيکه د «علق» له سورت سره دومره ښکاره او ځرګنده ده چې داسې نه بريښي توضيح ته اړتيا ولري، له دې سره سره کومه طريقه او لړۍ چې په نظر کې نيول شوې ده، لکه د نورو سورتونو په څېر، په پيل کې له مخکيني سورت سره يې د اړيکو د زمينو څېړنه کوو.

که څه هم په دې دوو سورتونو کې يوه کليمه هم داسې نه شو موندلی چې عيناً په دواړو سورتونو کې کارول شوې وي، له دې سره سره د دواړو سورتونو مشترکه محتوا او مضمون له نه پرې کېدونکي پيوند او تړاو څخه حکايت کوي. د علق سورت پيغمبر ته د «ولوله» له فرمان سره پيل کيږي او د قدر سورت د قدر په شپه د «هغه» له نزول سره. سره له دې چې ډير واضح نه دی چې هاغه فرمان دې په همدې شپه صادر شوی وي، خو د انکار وړ هم نه دی چې هر دواړه آيتونه له «وحی» او د قرآن له نزوله (ټول يې يا يوه برخه يې) خبره کوي. لنډه دا چې د دواړو سورتونو محور، د وحی د نزول هېښوونکي پېښه او له ملکوتي عالمونو سره د عروج کړي او لوړو پوړونو ته د رسېدلي انسان اړيکه ده.

| |
|---|
| له دې سورت څخه دا څرګندېږي چې له لنډيز سره سره ډېرو مهمو موضوع ګانو ته په کې اشاره شوې ده او د کوم کتاب پيل چې د علق سورت له پنځو آيتونو څخه شوې دی، د هغه په اړه يې خلکو ته ويلي چې دا کتاب په څرنګه تقدير جوړوونکې شپه يعنې د قدر په شپه نازل شوی دی څومره اوچت او د قدر وړ کتاب دی او نزول يې څه معنی او مفهوم لري او له ټولو لومړۍ د پاملرنې خبره دا چې الله تعالی فرمايي: چې دا کتاب موږ نازل کړی دی يعنې دا د حضرت محمد (ص) خپل تأليف او تصنيف نه دی بلکې الله تعالی وايي چې: موږ پرې نازل کړی دی او موږ يې نازلوونکي يو. |

## د مسئلې طرحه او د سورت د مضمونونو محور:

د قدر سورت په عين اختصار او ايجاز کې چې پر پنځو لنډو آيتونو منحصر دی، ډېر ستر ابهامونه او ستونزې پاروي چې ځواب ورته په ساده ګۍ او آسانۍ نه موندل کيږي، د آيتونو عظمت او لوړتيا يې تر دې بريده ده چې ددې آيتونو مخاطب عظيم الشأن پيغمبر ته ويل کيږي:

«و ما ادريک ما ليلة القدر.» «او ته څه پوهيږې چې ليلة القدر [د قدر شپه] څه څيز دی» او پر دې توضيح بسنه هم نه کوي او ورپسې وايي چې:«ليلة القدر خير من الف شهر. د قدر شپه تر زرو مياشتو غوره ده». نو پر دې بنا بايد انتظار ونلرو هاغه مطلب چې په غيب عالم او ملکوت پورې اړه لري، لکه د مادي او عادي مطلبونو په څېر د«علم» له سترګۍ ووينو، همدا چې د هغه په شأن کې «ما ادريک..» ويل شوي دي څرګندوي چې د هغه ماهيّت، (لږ تر لږه د قرآن د نزول پر مهال او هم وسمهال) انسانانو ته د پوهې او درک وړ نه دی او يوازې د هغې په اغېز او پايله فکر کولی شو، ځکه چې په قرآن کې دا جمله معمولاً د بشر له ذهن او درک څخه له لېرې او اوچتو مسئلو په اړه راغلې ده لکه:

و ما ادريک ما الحاقه، ما يوم الفصل، ما يوم الدين، ما سقر، ماعليون، ما القارعه، هاويه، ما الحطمه، ما الطارق، ما العقبه.

نو که زموږ فکر او اند د داسې مطلب د حقيقت په کشف کې تم کيږي، ددې لپاره دی چې لږ تر لږه د قرآن په هدايت، ارشاد او اشاره د هاغې برکتناکې شپې له آثارو څخه په خپلې دنيا پورې اړوندو حقيقتونو باندې پوه شو. نو کوښښ کوو د موضوع د پوهېدلو لپاره د قرآن په ارشاداتو او مثالو کې په غور او تدبر کولو او د مقايسې او پرتله کولو پر بنسټ ځېنو پوښتنو ته د ځواب موندلو په لټه کې شو، له هغې جملې هڅه کوو د لاندينيو پوښتنو ځوابونو ته نژدې شو لکه: قدر څه دی او له وحی او د قرآن له نزول سره څه اړيکه لري؟ ـ د قرآن نزول د قدر په شپه او يا تنزيل يې په ۲۳ کلونو کې څنګه توجيه کيږي؟ ـ ولې د قدر شپه (ولې ورځ نه)؟ ـ ولې زموږ فکر او اند د «ليلة القدر» له درک څخه عاجز دی؟ ـ د قدر شپه ولې له زرو مياشتو غوره او بهتره ده؟ ـ د ملائکو پرله پسې راکوزېدل د څه او کومې موخې لپاره دي؟ ـ ولې روح له ملائکو بېل ذکر شوی دی؟ ـ «اذن ربّ» څه مفهوم لري؟ـ امر يعنې څه (.. من کل امر)؟ـ د هغې شپې تر ګهيځه [د سپېدو تر ختو پورې] سلامتي په څه معنا ده؟.

د «دخان» له سورت څخه د مرستې اخېستنه:

د قدر شپې د ډېرې ښه پېژندنې لپاره، د قدر له سورت سره په تړاو کې د پرتلې لپاره، له بده مرغه نېغ په نېغه ورته کوم آیت د دخان له سورت پرته، چې د بعثت په څلورم کال کې له لږ واټن وروسته نازل شوی، په قرآن کې نه شو موندلی. داسې برېښي چې ددې آیتونو [د دخان سورت ۵ لومړني آیتونه دقدر سورت له پنځه آیتونو سره] پرتله او مقابله کولی شي، چې تر یوه بریده ددې ستونزو د پېژندلو لپاره لار اواره کړي. لومړی دا آیتونه دلته نقلوو، او په لنډه توګه یې پرتله کوو، چې وروسته به یې پر خپل ځای توضیح کړو:

«حم،﴿﴾ وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ،﴿﴾ إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ،﴿﴾ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ،﴿﴾ أَمْرًا مِنْ عِنْدِنَا إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ،﴿﴾»

حا، میم. سوګند [او لوړه] پر دې [روښانه] بیانوونکي کتاب.﴿﴾ چې موږ دا په یوې برکتناکې شپې کې [دشرک د پایلو او اغېزو په اړه د خلکو د آګاهۍ او پوهولو لپاره] نازل کړی؛ په رښتیني توګه موږ [تل د امتونو د هدایت لپاره د هغوی دبدو کړنو د اغېزو په اړه] انذار ورکوونکي [ډاروونکي، ننګوونکي او ګواښوونکي] یو.﴿﴾ په هاغه [شپه] کې د حکمت [ او له هدایتي چارو] هر ډول چارې [د بشر د هدایتي حافظې د هضم او جذب لپاره] بېلولی [او بیانولی] شي.﴿﴾ یو امر زموږ له لورې [نه د دنیا د مادي موضوعاتو له مقولې]، موږ تل [د خپل پیغام د ابلاغ لپاره د رسولانو] لېږوونکي یو. [دخان۱ (۴۴:۱)تر ۵]

که دا پورتني آیتونه د قدر له سورت سره څنګ تر څنګ کېږدو د هغوی له پرتله کولو څخه لاندېني مطلبونه موندلی شو:

۱ ـ هغه چې د قدر په شپه نازل شوی همدا مبین کتاب [قرآن] دی

۲ ـ د قدر شپه نېکمرغه او له برکته ډکه شپه ده [إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ـ إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ] او له زرو شپو غوره والی یې د هغې د بې شمېره برکتونو له لامله دی.

۳ ـ د ملائکو او روح نزول په هاغه شپه کې له هر امره، د هاغه محکم امر د تفریق لپاره دی.

د قدر په سورت کې فرمایي: [تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ].

او د دخان په سورت کې فرمایي: [فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ، أَمْرًا مِنْ عِنْدِنَا...].

په هر دواړو سورتونو کې خبره له «فیها» او «امر» ده. صرفنظر له دې چې د امرحکیم او د ملائکو د نزول معنا څه ډول ده [چې په خپل ځای کې به توضیح ورکول شي] داسې برېښي چې د ملائکو او روح نقش په هغه شپه، په اصطلاح د هاغه رزق د هضم او د جذب وړ کول دي چې د بشر د معنوي ظرفیت او وړتیا په تناسب نازلیږي، هاغه حکیم امر چې له الله سره دی په تدریج د تفریق او تفصیل [یو تر بله بېلو بېلو آیاتونو] په بڼه او د تورو او د لوستلو وړ کلیمو په بڼه اوړي. كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ

لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ [هود۱ (۱۱:۱)] هاغه کتاب چې آيتونه يې محکم يوه تړته دي او بيا وروسته د حکيم خبير خدای له لور تفصيل ورکړل شوی دی.

۴ـ تر ګهيځه پورې د هغې شپې سلامتي د هاغه رحمت له لامله ده چې په هغه شپه کې د سميعٌ عليم پالونکي ښښتن له لورې لورول کيږي. [رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ].

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ
إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ﴿١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ﴿٢﴾ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴿٣﴾ تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ ﴿٤﴾ سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿٥﴾

## بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴿١﴾**

موږ دا[قرآن] د قدر[1] [=کچه او اندازه] په شپه نازل کړی دی،

**وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ﴿٢﴾**

او ته څه پوهيږې[2] چې د قدر شپه څه ده؟

بسم اللهِ الرّحمن الرّحيم. إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ. موږ دا د قدر په شپه نازل کړ. د «ه»، ضمير قرآن ته اشاره کوي. وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ. او ته څه پوهيږې چې «لَيْلَةُالْقَدْرِ» څه شيز دی. لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ. د «ليلة القدر» ارزښت له زرو مياشتو څخه زيات دی. تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ. په دغه شپه پرښتې او روح د خپل پالونکي ښښتن په اذن او فرمان د هرې چارې لپاره نازليږي.

هوکی تاسو وينئ چې دا سورت له دومره لنډيز سره سره په کومه کچه ناڅرګند او مبهم دی. د هغه هر يوه آيت ته پاملرنه وکړئ، يوې بشپړې تفصيلي څرګندونې او توضيح ته اړتيا لري. لومړی همدا چې د سورت په پيل کې پيغمبر اکرم ته وايي وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ، ته څه پوهيږې چې«لَيْلَةُ الْقَدْرِ»څه شيز دی، دا څرګندوي چې نه ښايي ډيره تمه ولرو چې د «قدر د شپې» په ښه يوه موضوع د خپل روزګار د مسئلو په څېر ولوستلی شو، د علم په مرسته يې درک کړو او پرې پوه شو. پيغمبر چې په ټوليز عقل [عقل کُل] او د انسانو تر ټولو پوه انسان په نامه مشهور دی او په دا ډول نژدې اړيکه چې د هستۍ له مبداء سره يې درلوده، هغه ته ويل کيږي ته په دې سطحه کې نه يې چې وکولی شې په هغه پوه شې: مَاأَدْرَاكَ، ته اصلاً څه پوهيږې؟يا څه څيز کولی شي تا دې قضيې په اړه پوهې ته نږدې کړي؟دا دمَاأَدْرَاكَ معنا ده.

په عمومي توګه قرآن، قيامت پورې اړوندو مسئلو کې دا عبارت ډېر کاروي. مثلاً: وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ.[انفطار ۱۷ (۸۲:۱۷)] «څنګه کولی شې پوه شې چې«يَوْمُ الدِّينِ» څه شی دی؟» يا:

«وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ. او ته څه پوهېږې، چې د فصل[او بېلتون] ورځ څه ده؟» [مرسلات۱۴ (۷۷:۱۴)] یا: « وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ. څه [علم او کومه نښانه] به تا آګاه کړي چې هغه ټکوونکې [او ځپنده] پېښه څه ده؟ [=پرهغې پوهېدل له بشري پوهې او درک څخه لېرې دی].»[قارعه۳ (۱۰۱:۳)]، « وَمَا أَدْرَاكَ مَاهِيَه. او څه [علم او کومه نښانه] به تا آګاه کړي چې هغه [هاويه] څه ده؟ »[قارعه۱۰ (۱۰۱:۱۰)] یا: «وَ مَا اَدْرَاکَ ماَ الْحَاقَّةُ. او څه ډول [د بشري پوهې په توسه] دا راز یوه پېښه تاته د درک وړ ده؟» [حاقه۳ (۶۹:۳)]، «وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَقَرُ. او ته څه پوهېږې [= څنګه کولی شې پوه شې] چې سقر څه دی؟» [مدثر۲۷ (۷۴:۲۷)]، «وَمَا أَدْرَاكَ مَا سِجِّينٌ. او ته څه پوهېږې چې «سجّين» څه دی [ځکه چې د بشري پوهې وړ نه دی]؟» [مطففين ۸(۸۳:۳)]، «وَمَا أَدْرَاكَ مَا عِلِّيُّونَ. او ته څه پوهېږې چې«عليين»څه دی [ځکه چې د بشري پوهې وړ نه دی]؟» [مطففين۱۹ (۸۳:۱۹)]، «وَمَا أَدْرَاكَ مَا الطَّارِقُ. او څه پوهېږې، چې طارق څه دی [= څنګه کولی شې د هغه په ماهيت پوه شې]؟» [طارق۲ (۸۶:۲)]، «وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ. او ته څه پوهېږې،چې هغه د غونډۍ ستغ ستونځ [ته ختل] څه څيز دی؟» [بلد ۱۲ (۹۰:۱۲)]. ښايي لس دولس ځله دا د مَاأَدْرَاكَ تعبير تکرار شوی وي چې په ټوله کې د ډېرو هېښوونکو ښکارندو او پديدو لپاره کارول شوی، چې عمدتاً د قيامت په اړه دي؛ هاغه ښکارندې [پديدې]، چې د بشري درک او پوهې په توسه د توضيح وړ نه دي.

د بېلګې په توګه چې يو ښسواده له تاسو وپوښتي چې اتومي انرژي څه شی دی؟ تاسو په ځواب کې ورته ووایاست: و ما أدراك ما اتومي انرژي! چون نه شئ کولی هغه ته توضيح ورکړئ، ځکه هغه چې نه پوهېږي، انرژي څه شی دی، اتوم څه شی دی، نو څنګه کولی شئ هغه ته اتومي انرژي توضيح کړئ؟ يوازې ورته وایاست ته له دې مسئلو څخه څه پوهېږې او ته د اتومي انرژي د درک او پوهېدو لپاره څه زده کړه، ډګر او شاليد لرې؟

ستاسو وړوکی ماشوم له تاسو کله کله د ځينو څيزونو په اړه پوښتنه کوي چې په ځواب کې يې يوازې بايد ورته ووايې: وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَه. ته څه پوهېږې چې دا څه څيز دی؟ هغه ته توضيح ورکول ناشوني دي او په دې مسئله پوهېدل د هغه د درک او پوهې په حد کې نه دي. د «لَيْلَةُ الْقَدْرِ» د مسئلې په اړه هم همدا حکم صادق دی. هاغه پېښه چې په هغه شپه واقع شوه، او هر کال هم بيا بيا تکرارېږي، الله تعالی له هماغه پيله وايي چې دا د بشر لپاره چندان د فهم او درک وړ نه ده. له دې سره سره، کولی شو او بايد سعې او هڅه وکړو چې پخپله د قرآن د لارښوونو په توسه د هغې پوهې ته نژدې شو او تر يوه بريده يې درک کړو.

لکه څنګه چې مو وويل؛ سره له دې چې دا سورت لنډ دی او له پنځو آيتونو څخه زيات نه دی، خو توضيحات يې له اوږدو سورتونو څخه هم زيات دي او ډېرو بېلګو او تشرېحاتو ته اړ دی نو مطلب ته د نژدې کېدو لپاره د سورت تشريح له څو پوښتنو په طرحه کولو پيلوو.

لومړۍ پوښتنه: «قَدْر» څه شی دی او د قرآن او وحی له نزول سره څه اړيکه لري او ولې هاغه شپه چې قرآن په کې نازل شوی دی د «قدر شپه» نومول شوې ده.

دويمه پوښتنه: که قرآن په هاغه شپه نازل شوی دی، نو ولې يې درويشت کاله نزول ادامه درلوده؟ دا دواړه څنګه له يو بله سره يو ځای کېدی شي؟

درېمه پوښتنه: ولې د قدر «شپه» او نه د قدر ورځ؟

څلورمه پوښتنه: ولې موږ نه شو کولی «لَيْلَةُ الْقَدْرِ» درک کړو؟

پنځمه پوښتنه: په هاغه شپه پرښتې او روح څه ډول نازلېږي او دهغوي نازلېدل د څه لپاره دی؟

شپږمه پوښتنه: د «ملائک» او «روح» تر منځ توپير څه دی؟

اوومه پوښتنه: روح او پرښتې څه دي چې هر دواړه مل نازلېږي؟ آيا له دوو بېلو ډولونو دي يا يو ډول دي؟

اتمه پوښتنه: د « ربّ په اذن» د هغوی نازلېدل په څه معنا دي؟

نهمه پوښتنه: «امر» څه څيز دی چې وايي: مِّن كُلِّ أَمْرٍ له هر يوه امره نازلېږي؟

لسمه پوښتنه:د فجر تر طلوع او د سباوون تر سپېدو پورې سلامتي څه معنا؟

پاملرنه وکړئ څومره پوښتنې د دغه لنډ سورت په اړه کېدلی شي مطرح کړئ او تر کومې کچې بايد په هغه کې اند او تأمل وکړو چې د هغه پوهې ته نږدې شو.

په قرآن کريم کې د «لَيْلَةُ الْقَدْرِ» په اړه دومره توضيح نه ده ورکړل شوې چې پوه شو واقعاً دا څه مسئله ده. خو د «دخان» سورت لومړني پنځه آيتونه د همدغې پديدې په اړه دي. د دخان سورت په دريم آيت کې وايي: «إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ ...»[دخان ۳(۴۴:۳)] نو، د قدر شپه له برکته ډکه او سرشاره ده. اوس که دا دواړه څنګ په څنګ کښېږدو، د هغوي د تالېمنې، ښادمنې، او له برکته ډکې ننبې او اغېزې ليدلی شو.

د «قدر» په سورت کې وايي: «تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ په دې شپه پرښتې او روح د خپل رب په اذن د هرې چارې لپاره نازلېږي». او د «دخان» په سورت کې وايي: «فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ.»« په دې [شپه] کې له هر امره [له هدايتي چارو، د بشر د حافظې د هضم او جذب لپاره] تفصيل [او بېلښت] ورکول کېږي [دخان ۴(۴۴:۴)] په دغه شپه کې، محکمې، استوارې، يوه ټوټه او ټيکاو چارې يو له بله بېلې او ټوټه ټوټه کېږي؛ د هاغې

غذا په خبر چې موږ يې خورو، لکه د غوښې يا ډوډۍ يوه ټوټه، چې په پيل کې په بدن کې د جذبېدلو وړ نه ده. هغه مهال چې غذا په خوله کې نيسو او ژوو، له لاړو سره ترکيبيږي، په ماتېدلو پيل کوي. اصلاً پخپله د «هضم» کليمه يعنې ماتېدل او ووړېدل. غذا د خوند د غدو د ترشحاتو له اغېزه د کولمو دېوالونو ته جذبيږي. کله چې په بشپړه توګه د شيرې په بڼه نرمه شوله، له کولمو تېرېږي او د کولمو د اړخونو پاڼيز وېښته هغه جذبوي. دا د معنوي مسئلو د پوهې لپاره يو ساده مثال دی. فيزيک يا رياضي په ټوليزه توګه يوه ټوټه او په يو ځل چاته نه شي ښوول کېدی. بايد جزء جزء او پړاو په پړاو، د کلونو په اوږدو کې، وښوول شي. فيزيک په ځانله توګه لسګونه څېرکي لري. همدا راز عضوي کيميا، معدني کيميا، عمومي کيميا په هر يو له هغوي کې هم بېلې بېلې برخې شاملې دي. همدا راز تاريخ يا جغرافيه ده. مطلب دادی چې علوم هم چې د ذهن يا روح غذا ده، بايد وړه وړه د انسان ذهن او فاهمې ته جذب شي. دا حکم يوازې د متعارفو علومو په اړه چې موږ نه شو کولی په يو ځلي هغه زده کړو، صادق نه دی، الله تعالی هم چې غواړي د انسان په زړه کې حقيقتونه ورځای کړي نابېره او دفعتاً نه شوني کيږي. بشريت، د زرګونو کلونو په اوږدو کې، بايد حقيقتونه واړه واړه، جذب او هضم کړي. د هغوی معنوي او هدايتي وده په تدريج او پړاو په پړاو بڼه نيسي.

موږ د ورځې بايد درې ځلې غذا وخورو، شوني نه ده چې د دريو ځلو غذا په يو ځل يا مثلاً د يوې هفتې غذا په يوه ورځ کې مصرف کړو. دلته هم بايد وويل شي هاغه حقيقتونو چې د قدر په هره شپه کې نازليږي، د بشريت علمي او فکري کلنۍ تغذيه ده. په ښوونځيو کې هم د هر ښوونيز کال په پيل کې نوي کتابونه ورکوي او نوي او تازه ښوونکي راځي او نوی تحصيلي پروګرام د کال په اوږدو کې ادامه مومي، تر بل کال بل ځل پوري. په هر صورت لکه څنګه چې ومو ويل، دا دوه سورتونه تر يو حده د يو بل توضيح کوونکي دي.

اما د «قدْر» د مسئلې په اړه؛ د قدر لغت د مصدر په توګه: اندازه، کچه، د دوو څيزونو يو اندازه والی له يو بل سره، توانايي، ځواک، قوه، احترام، درناوی، بې نيازي او نه اړمنتيا. «قدر» په قرآن کې دوه مفهومه لري. يو کميّت او بل کيفيّت. يعنې د قدر د کليمې اصلي معنا دوه اصلي وجهې لري چې نورې وجهې هم په همدوی دواړو تړاو لري. يوه د څيزونو اندازه او هندسه او د هغوی د «کميّت» مقدار دی، بل د هغوی توانايي [ځواکمنتيا] او د «کيفيّت» تقدير دی.[چې په اصل کې دا دوه وجهې، هم يوې وجهې ته چې په عموم کې له«اندازې»څخه عبارت ده ورګرځي. ځکه چې د موجوداتو قدرت هم پر مشيّتي حساب اندازه ګذاري شوی دی].

«قدر» د کميّت په معنا، يعنې هر هاغه څه چې په دنيا کې دي، د ټاکلي کچې او مقدار له مخې دي. «قدر» د کيفيت په معنا هم په همدې ډول دی. يعنې هغه هم په اندازه دی. اساساً جهان يوه هندسه لري او عددي نظم، بنيز او کړنيز نظم پر هغې حاکم دی. دا په ټولو طبيعي پديدو کې شونی دی چې وړينو. د خدای «قدير»والی له همدې ځايه دی چې هر څيز يې لومړی په ټاکلي او متناسبه اندازه پنځولی دی، بيا يې د هغه له اړتيا سره متناسب يو قدرت ورته عنايت کړی [ښنلی] دی چې په جهان کې وړ ځايگی ومومي «داسې برېښي چې د اعلی سورت لومړني آيتونه [الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّى وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَى هاغه چې ويې پنځول او انډول يې کړل. او هماغه چې اندازه يې کېښووه نو بيا يې هدايت کړل] د کمی او کيفي دوو حالتونو پر ترکيب پاملرنه ولري، له خلق وروسته تسويه هماغه کمی نظم او تناسب دی چې وروسته له هغه ورته توانايي او ځواک په قدر او اندازه ورکول کيږي بيا ورپسې د کاروني او عمل لپاره د هدايت قدرت ورکول کيږي چې د طغيان مانع شي (والله اعلم)».

په دې ترتيب دعالم ټول مخلوقات په«قدر» [اندازه] کې شامل دي دلته په قرآن کې څو اشارې لولو چې وړينو په هستۍ کې ټول څيزونه د «قدر» او اندازې له مخې رامنځته شوي دي، الله تعالی فرمايي: موږ ټول څيزونه د قدر او اندازې له مخې پنځولي دي. د الله پنځونې دقيقاً په اندازه دي: «إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ [قمر ۴۹ (۵۴:۴۹)] ـ ټول څيزونه مو په اندازه پنځولي»، ټول څيزونه د الله په نزد د مقدار او اندازې له مخې دي. يعنې جهان بې له حساب او کتاب او پرته له نظم او هندسې نه دی. «وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ» [رعد ۸ (۱۳:۸)] ـ «او ټول څيزونه د هغه په نزد په اندازه دي»، هر څيز يې چې خلق کړی هغه ته يې اندازه ايښې، هغه هم تقديراً، ځانګړې او بشپړه اندازه. «...وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍفَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا» [فرقان۲ (۲۵:۲)] ـ «او ټول څيزونه يې و پنځول، بيا يې په اندازه کړل د اندازې وړ». پورتني آيتونه د «قدر» د قانون عموميت د ټولو څيزونو په اړه څرګندوي، د بېلو بېلو ښکارندو لپاره هم په ځانګړې توګه هم يو لړ اشارې د ځينو موضوعګانو د اندازې لرلو په اړه شوي دي. چې په لاندې توګه ځينې له هغوی ذکر کوو:

[مرګ]: حتا مرګ يې هم د قدر او اندازې پر اساس مقدر کړی دی: «نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ...»«موږ مرګ ستاسو په منځ کې مقدر کړی دی ...»[واقعه۶۰ (۵۶:۶۰)] د انسان مرګ هم د اندازې له مخې تقدير شوی دی. داسې نه دی چې مثلاً يو څوک زر کاله عمر کوي او بل پنځه سوه کاله. د ژوند اوږدوالی او پيل او پای يې يو نظم لري. زموږ د سلولونو انتروپي کابو په يوه اندازه دي، بس د لږ شانته کم او زيات سره. البته دا کېدای شي چې يو څوک بد ژوند

وکړي او بده تغذيه وکړي او عمر يې لنډ شي خو په هر حالت زموږ ژوند د عمر له ټاکلې اندازې پرته نور څه نه دی.

[د سپوږمۍ حرکت]: «وَالْقَمَرَ قَدَّرْنَاهُ مَنَازِلَ...» [يس ۳۹(۳۶:۳۹)] د لمر او سپوږمۍ حرکت هم همدا راز د قدر او اندازې پر بنسټ دی، وايي: موږ د سپوږمۍ منزلونو ته اندازې ايښې دي. چې مقصد يې د سپوږمۍ مختلف حالتونه له هلال څخه تر بشپړ بدر پورې دي.

[امر]: د الله امر او فرمان د کچې، اندازې او قاعدې له مخې دی يعنې د ټولنيز حکمت پر بنسټ دی. كَانَ أَمْرُ اللَّهِ قَدَرًا مَقْدُورًا [احزاب ۳۸ (۳۳:۳۸)]

[رزق]: رزق هم په همدې ډول د قدر او اندازې له مخې دی وايي تاسو ته د روزۍ رسېدل يو حساب اوکتاب او نظم او ترتيب لري.«اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ...» [رعد۲۶(۱۳:۲۶) او نور بې شمېره آيتونه] ـ «الله چې هر چا ته وغواړي روزي يې پراخوي او اندازه ورته اېږدي...».

[ له نطفې څخه د انسان پنځونه]: له نطفې څخه د انسان د خلقت په اړه وايي موږ تاسو له يوې نطفې خلق کړئ او هغه مو په رحم کې کېښوده، إِلَى قَدَرٍ مَّعْلُومٍ تر معلومې او ټاکلې اندازې او مودې پورې؛ مثلاً تر نهو مياشتو او نهو ورځو پورې. يعنې په ټاکلې زمانې کې؛ نه داچې يوه مور مثلاً په دوو مياشتو کې فارغه شي او بله هم دريو کالو پورې خپل بچی کېږده کې وساتي او ماشوم رانه وړي بلکې يو نظم او حساب او کتاب وجود لري.

«أَلَمْ نَخْلُقْكُمْ مِنْ مَاءٍ مَهِينٍ. فَجَعَلْنَاهُ فِي قَرَارٍ مَكِينٍ. إِلَى قَدَرٍ مَعْلُومٍ. فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ الْقَادِرُونَ.» [مرسلات۲۲ (۷۷:۲۲)] «آيا تاسو مې له ناڅيزه اوبو ونه پنځولئ، چې هغه مو په ټېکاو ځايګي [دمور رحم «زيلانځ»]کې ځای پرځای کړې؟ بيا مو معلومه اندازه ورته کېښووه چې موږ ښه اندازه ايښوونکي يو». د جنين سلولې وده هم دقيقاً د نظم او حساب شوې اندازې مطابق ښه نيسي. تدريجي پيدايښت مثلاً د هډوکو او وينې او غوښې او پوستکي سلولونه، ټول د فرمان او پروګرام له مخې دي.که د مچ د وزر په اندازه له غدو د يوې، مثلاً د «Hypophyse هيپوفيز» غدې [نخاميه غدې] ترشحات که لږو ډېر شي د هغې په وده کې به سخت اختلال رامنځته شي. او څرګنده ده چې هغه غده هم د لومړنيو سلولونو په توسه جوړېږي. په بدن کې د زرګونو غړو سلولونه ټول په اندازه او معلوم مقدار جوړ شوي دي.

[ځمکنې اقوات «روزي ګانې»]: هغه غذاګانې چې له ځمکې څخه لاسته راځي او نورې شونتياوې او امکانات چې د بشر يا نورو موجوداتو لپاره شتون لري، ټول د اندازې له مخې دي.

دا بنسټيز هستوګنځی او ټاټوبي نظام [اکوسيستم Ecosystem] دقيقاً حساب شوی دی. وايي الله ځمکې ته برکت ورکړی: وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا...[فصلت۱۰(۴۱:۱۰)] ـ او پر ځمکه کې يې برکت کېښود او په هغې کې يې روزي ګانې [اقوات] په اندازه کړي دي. يعنې د هغوی قُوت، خوراک او روزي ګانې يې په اندازه مقررې کړي دي. ټول خوراکونه زموږ او نورو ژوو لپاره په اندازه دي او حساب شوي دي. په دې جهان کې هيڅ څيز لږ يا ډېر نه دی. بلکې ټول څيزونه متعادل او متناسب دي. همدا راز د موجوداتو عدد هم په دا ډول دی. ټول د وچې او بحرونو موجودات يو له بله تغذيه کوي، خو ولې د هيڅ يو نسل له تناسبه نه را غورځي؟ حيوانات يو بل خوري او پر دې بنا هغه حيوان يا حيوانات چې زور يې ډېر دی بايد باقي پاته شي او نور له منځه ولاړ شي. خو داسې نه پېښېږي،ولې؟ځکه چې طبيعت خپل حساب او کتاب لري او توازن يې نه خرابېږي او کاملاً تنظيم شوی دی مګر دا چې انسان په کې دخالت وکړي.

[شپه او ورځ]: د شپې او ورځې په اړه وايي:«...وَاللَّهُ يُقَدِّرُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ...»[مزمل۲۰(۷۳:۲۰)] «الله تعالی شپه او ورځ د قدر او اندازې له مخې ترتيب کړي دي».

دا د«قدر» له موردونو او مصاديقو محدودې نمونې او مثالونه دي چې د يوې ساده څېړنې په ترڅ کې کولی شو ډېر نور زيات موردونه په قرآن کې ومومو. د دنيا په هر څيز کې کولی شئ دقيقاً ټاکلی مقدار او هندسه ووينئ او کميت او کيفيت، کړنې او چلن يې حساب شوي دي. اصولاً همدا چې ټينګار کوي «هيڅ څيز نشته مګر دا چې خزانې او زېرمې يې زموږ سره دي او موږ له اندازې پرته نه نازلوو.» وَإِن مِّن شَيْءٍ، هيڅ څيز په دنيا کې نشته، إِلاَّ عِندَنَا خَزَائِنُهُ، مګر زېرمې او سرچينې يې له موږ سره دي وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلاَّ بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ. او هغه نه نازلوو مګر په معلوم مقدار او اندازه. [حجر۲۱(۱۵:۲۱)].

تاسو اورښت ته چې د ځمکې په کرې کې سر تر سره اوربېږي پاملرنه وکړئ، کابو په هر ځای کې يې مقدارٍ ثابت دی. د بېلګې په توګه په افغانستان کې په منځنۍ توګه په کال کې کابو ۲۵۰ ملي متره، په ايران کې ۲۵۰ ملي متره په انګلستان کې په منځنۍ توګه تر ۱۴۰۰ ملي متره، يا کاليفورنيا کې کابو ۳۵۰ ملي متره او په ځينو ځايونو کې لکه د هماليا په لمنو او هندوستان کې، تر دوو مترو پورې هم کلنۍ اورښت اوري. کېدی شي په اټکليزه توګه کابو پنځه په سلو کې لږو ډېر شي، خو د نړۍ په هره نقطه کې د باران په نزول کې يو نظم او تناسب لېدلی شو چې د «قدر» له مخې دی. داسې ښکاري چې لومړی هر څيز د باران په څېر يوه زېرمه «خزينه» لري، دويم دا چې «نازل» کېدونکي دي [نازليږي]، دريم دا چې«قدر» لري.

اوس له دې سريزو سره، موږ ته څرګنده ده چې وايي: هغه څه چې موږ د قدر په شپه کې نازل کړي او نازلوو، له اندازې پرته نه ول او نه دي. داسې برېښي چې ګواکې د بشريت د هدايتي اړتيا په نسبت، په هغه شپه ونډه ورکول کېږي. او هر کال هم د قدر شپه تکرارېږي؛ سمدم لکه د هاغو تحصيلي کلونو په څېر چې ومو ويل په لومړي ټولګي کې زده کوونکي يو خاص مقدار او ټاکلې اندازه زده کړه کوي او په دويم ټولګي نور ټاکلی مقدار او په همدې ډول تر پايه. اوس له دې سريزې سره بايد ووينو د «قدر» په شپه کې له کومې «خزينې» څه څيز نازل شو او «قدر» او اندازه يې څه ډول وه.

## د «باران د پدېدې» له نمونې سره پرتله:

لکه څنګه چې وينو، د «باران نزول» او د «وحی نزول» دوه پدېدې دي چې هر دواړه د الله له آيتونو او د هغه د رحمت له نښو څخه دي؛ قرآن هم د باران نزول د الله له رحمته يوه نښانه ګڼي او هم د قرآن او وحی نزول. «فَانْظُرْ إِلَى آثَارِ رَحْمَتِ اللَّهِ كَيْفَ يُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا..»«نو د الهي رحمت [او لوروني] اغېزو ته [په طبيعت کې] وګوره، چې څه ډول مځکه د هغه تر مرګ [مړاوېدو او په ژمي کې له وچوالي ] وروسته راژوندی کوي..» [روم۵۰(۳۰:۵۰)] «رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ» «[دا] ستا د پالونکي څښتن له لورې لورينه او رحمت دی ، چې هغه [د دوعا او غوښتنو] اورېدونکی او [د ودې او کمال لپاره د انسان په اړتياو] پوه دی.» [دخان۶(۴۴:۶)].

اوس ښايي دې نکتې ته پاملرنه وکړو چې د اورښت [باران] ښکارنده او د وحي د اورېدو ښکارنده هر دواړه قرآن، هم د «نزول» له کليمې سره بيان کړي او هم له «تنزيل» سره. «نزول» يعني په يو ځلي راکوزېدل، او «تنزيل» يعني تدريجي راکوزېدل. يعنې هر دواړه د يوې قاعدې او قانون لرونکي دي: هر دواړه نزول [دفعتاً يو ځلي کوزيدل] او تنزيل [ورو او په تدريجي توګه کوزېدل] لري «وَالَّذِي نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً...او هغه چې له آسمانه يې په ټاکلې کچه اوبه نازلې کړې...»[زخرف ۱۱ (۴۳:۱۱)]، «...فَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً... او له آسمانه مواوبه نازلې کړې...»[حجر۲۲ (۱۵:۲۲)]ـ«وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ...اوله قرآن نازلوو...»[اسراء ۸۲ (۱۷:۸۲)]، «إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ.»«موږ دا د قدر په شپه نازل کړ.» [قدر ۱ (۹۷:۱)]، هر دواړه هم باران او هم قرآن د الله له لور رالېږل [نازل] شوي دي.

«وَهُوَ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ.. او هغه[الله] هاغه ذات دی چې بادونه يې د زيرې ګر په توګه له خپل رحمته [=باران] مخکې مخکې ولېږل ..»[فرقان ۴۸ (۲۵:۴۸)]ــ

«...وَأَرْسَلْنَا السَّمَاءَ عَلَيْهِمْ مِدْرَارًا... [باران مو له] آسمانه پرله پسې پر هغوی ولېږه ...» [انعام۶ (۶:۶)] ـ «وَكَمْ أَرْسَلْنَا مِنْ نَبِيٍّ فِي الْأَوَّلِينَ» «او موږ په مخکينيو [قومونو] کې څومره ډېر له نبيانو لېږلي دي.» [زخرف ۶ (۶:۴۳)].

په قرآن کې، کله کله د مادي او معنوي پديدو لپاره واحد تعبير کارول شوی دی. ښايي توضيح کول يې لږ شانته ستونزمن وي. مثلاً د باد په اړه د «تصريف» کليمه، له يوه لوري بل لور ته د حرکت کولو په معنا کارول شوې ده او د قرآن په اړه يې هم همدې ته ورته تعبير راوړی دی.هر دواړه تصريف [اووښتل] کېدونکي دي [له يوه حالته بل حالت ته اوړي] [تصريف الرياح (د اوربشت زيږو بادونو ګردش)] ـ «...نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ»«... خپل آيتونه په راز راز طريقو بيانوو ددې لپاره چې آګاهي ومومۍ.» [انعام ۶۵ (۶:۶۵)] «وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ...»«او موږ په دې قرآن کې خلکو ته مثالونه [دپوهېدو د آسانۍ لپاره] په راز راز ښهو بيان کړي دي ...» [کهف ۵۴ (۱۸:۵۴)].

لکه څنګه چې د اوبو ذرې د ځمکې له سطحې څخه آسمان ته او چتېږي او صعود کوي، يعني پر ځمکه نازل شوی باران پورته اوچتېږي «يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ»«هاغه څه چې په ځمکه کې ننوځي او هاغه څه چې له هغې راوځي، او هاغه څه چې له آسمانه راکوزيږي او هاغه څه چې په کې پورته ځي ورمعلوم دي او هغه ډېر لورين ښښونکی دی.»[سبا۲ (۳۴:۲) او حديد۴ (۵۷:۴)].

همدا راز د انسان هدايت شوی سپېڅلی کلام او د هغه خالص عملونه او کړنې هم د الله لور ته صعود کوي او پورته اوچتيږي: «...إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ...»«د هغه لور ته سپېڅلی کلام صعود کوي [اوچتيږي] او صالح عمل هغه پورته وړي» [فاطر۱۰ (۳۵:۱۰)] ـ «فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ...»«[هاغه د هدايت څراغ ] په هغو کورونوکې دی چې الله اذن کړی [رخصت يې ورکړی] تر څو د هغه نوم په هغو کې اوچت شي او ذکر[=ياد] شي...»[نور۳۶(۲۴:۳۶)].

هم د باران په توسه خړوب شوې ګياه د الله په «اذن» وده کوي «وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ ...» «او پاکيزه ځمکه د خپل پالونکي ښښتن په اذن [په هغه نظامونو کې چې هغه د نباتاتو په عالم کې ګومارلي] خپل نبات ټوکوي...»[اعراف ۵۸(۷:۵۸)]. او مېوه ورکوي «تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا...»«[داسې يوه ونه] په ټوله کې د خپل پالونکي ښښتن په اذن خپله مېوه ورکوي...» [ابراهيم ۲۵ (۱۴:۲۵)].

او هم وحی د الله په «اذن» نازليږي «تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ...» «په دغه شپه کې پرښتې او روح د خپل پالونکي ښښتن په اذن او فرمان نازليږي...» [قدر۴ (۹۷:۴)] ـ «...فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ...» «هغه دا [قرآن] د الله په اذن او فرمان ستا پر قلب [زړه] نازل کړی دی...»[بقره ۹۷ (۲:۹۷)] ـ «...وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَنْ يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ...»«او د هيڅ استازي لپاره دا شوني نه وه چې يو آيت راوړي مګر د الله په اذن او فرمان [هغوی د غوښتنو له مخې معجزه راوړي]» [غافر ۷۸ (۴۰:۷۸)].

په واقعيت کې، د باران د نزول پديده او د وحی د نزول پديده يو له بله سره ورته ساري او نمونې دي، يعنې هر دواړه د يو ډول موډل لرونکي دي. نو پر دې بنا، پر هاغو څيزونو پوهه اوفهم چې په طبيعت کې پېښيږي له موږ سره مرسته کوي چې تر يو بريده د قرآن د نزول په معنا او مفهوم پوه شو. مثلاً د «تسبيح» د عمل په اړه وايي:

ټول موجودات د تسبيح په حال کې دي. هم باد د الله تسبيح کوي او هم تالنده او برېښنا د الله تسبيح کوي «وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ...» «او تالنده [په خپلو لوړو ازانګو ] د هغه په حمد [او ستاينه] تسبيح کوي او [ټولې] پرښتې د هغه له ويرې [اوهيبته په خپلو اصلاحي نقشونو بوختې دي...].» [رعد۱۳ (۱۳:۱۳)]، او هم بنده د الله تسبيح کوي.

همدا راز وايي چې هم د باران اوبه تر ځمکې لاندې زېرمې لري او هم نبوت زېرمې لري.

د اوبو د سرچينو او زيرمو «خزينو» په اړه وايي :

«...فَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ وَمَا أَنْتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ» «او له آسمانه مو اوبه نازلې کړې نو تاسو مو پرې [د باران په اورولو] خړوب کړئ او تاسو يې [د ځمکې په لاندينيو طبقو يا په سيندونو او بحرونو کې] زېرمه کوونکي نه ياست.» [حجر ۲۲ (۱۵:۲۲)] - «وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا عِنْدَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَعْلُومٍ» «هيڅ څيز شتون نه لري مګر دا چې خزانې يې له موږ سره دي او هغه له ټاکلې اندازې پرته نه نازلوو.» [حجر ۲۱ (۱۵:۲۱)].

او هم وايي د نبوت وحی، سرچينه او خزينه لري : «أَأُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِنْ بَيْنِنَا... أَمْ عِنْدَهُمْ خَزَائِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيزِ الْوَهَّابِ»«[دوی وايي] آيا زموږ له منځه ، دا ذکر يوازې پر ده نازل شوی دی؟... آيا مګر ستا د اوچت [ځواکمن] بښنګر پالونکي ښښتن د لوروني خزانې له دوی سره دي [چې نبوت ددوی حق اوسي]؟» [ص ۸ (۳۸:۸) او ۹] ــ همدا راز «أَمْ عِنْدَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ. آيا ستا د پالونکي ښښتن [د رحمت] خزانې [او زېرمې] له دوی سره دي؟ آيا [دوی پر هر څيز] واکمني لري؟» [طور۳۷ (۳۷:۵۲)].

او په پای کې څرګنده ده چې: هم باران «قدر»[اندازه] لري؛ «وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ...» «او له آسمانه مو اوبه په اندازه «قدر» نازلې کړې [و اورولې]...»[مؤمنون ۱۸ (۲۳:۱۸)] ـ «وَالَّذِي نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ...»«او هاغه چې له آسمانه يې په ټاکلي «قدر» [کچه] اوبه نازلې کړې...»[زخرف۱۱ (۴۳:۱۱)]، او هم وحی «قدر» لري؛ «إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ» «موږ دا [قرآن] د قدر په شپه نازل کړ» [قدر۱ (۹۷:۱)] ـ «مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ اللَّهُ لَهُ سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ قَدَرًا مَقْدُورًا»«پر پيغمبر هيڅ راز حرج [او سختي] په هاغه څه کې چې الله پرې فرض کړي دي نشته، [دا] الهي سنت دی چې د مخکينيو [پيغمبرانو] په مورد کې هم جاري وو، او د الله فرمان د اندازې او قاعدې له مخې دی. [=ټولنيز حکمت لري]» [احزاب ۳۸(۳۳:۳۸)]. او په همدې ترتيب ډېر زيات نور ورته والی. په دې ترتيب د «باران د پديدې» له نمونې څخه په ګټې اخېستلو کولی شو ډېری ستونزې د «وحی د پديدې» د پېژندلو لپاره له خپلې مخې لېرې کړو او د هغې د فهم لپاره د خپل درک تر بريده نژدې شو. ځکه چې هر دواړه له يوې منشاء او مبداء نازلې شوي او د يوه قانون او مشيت لرونکي دي.

## فاعليت او قابليت :

دا چې [د هر څيز زېرمې او خزانې له الله سره دي او هغه له «مقدار» پرته نه نازلولوي]، د قضيې يو اړخ دی، يعنې د هغه د «فاعليت» جنبه ده. دا البته لازم شرط دی خو کافي نه دی، د قضيې بل اړخ د څيزونو د «قابليت» جنبه ده چې نازل شوی «مقدار» بايد د خپل وجود په «ظرف» کې ومني. ځکه چې که د منلو دا ډول قابليت، وړتيا او چمتووالی رامنځته شوی نه وي، نازل شوی «مقدار» ضايع کېږي او خوشې ځي. د بېلګې په توګه يو معلم چې د شاګردانو د ذهني ظرفيت او وړتيا له بريده زيات تعليم ورکړي، يا يو بڼوال چې د باغچې له ګنجايش او اندازې زياتې ونې پکې وکري او همدا راز نور.

په طبيعت کې دا قانونمندي په هر ځای کې لېدل کېږي او ټول موجودات، که هغه جامد وي، نبات وي او يا حيوان، کوم تغير او تحول چې په خپله وړتيا او قابليت کې پيدا کوي، له دې سره هم غبرې، د خپل نوي ظرفيت سره متناسب، د ودې اوکمال په لور کې د غيب له خزانو برخه مومي. د موجوداتو نوعي غورځنګ [موتاسيون Mutation] هم له همدې قانونمندۍ تبعيت او پلټوني کوي او په همدې بڼه سرته رسيږي.

پورتنی اصل يوازې په « مادې » زمينه او مادي موجوداتو کې صادق او رښتينی نه دی، بلکې د انسان په نفسياتي او معنوي عالمونو کې هم همدا حساب برقرار دی. لکه څنګه چې علمي زده کړې

ورو او په تدریج ښه نیسي او د زده کوونکي د عقلي وړتیاو او ذهني ودې د زیاتوالي په تناسب، د هغه تحصیلي درجې پورته ځي، معنوې زده کړې، یعنې «هدایت» موندل او په ربوبي آیتونو پوهه او آګاهي هم د انسان د روحي ظرفیت او «قابلیت» او وړتیاو له ودې سره متناسبه ده، په دې ترتیب د مطلق «فاعلیت» له لور د هدایت د کتاب نزول، د وړ او چمتو «قابلیت» له لور د هغه له منلو سره، یوه اړیکه رامنځته کوي چې شدت او ضعف یې د منونکي په «قدر» پورې اړه لري او د قدر شپه، هاغه شپه ده چې دا ډول اړیکې رامنځته کیږي او د هر چا یا هر امّت تقدیر د هغوی د وړتیا او ظرفیت په اندازه مقدر کیږي.

دا خبره هم د یادولو وړ ده چې د قرآن شپږ سورتونه، له لسم څخه تر پنځلسم پورې، چې له یوه پرته ټول له «الف، لام، را» مقطعه تورو سره پیل کیږي، [او هغه یو سورت (رعد) هم یوازې یو اضافه میم لري «المر»]، پر پیغمبرانو د وحي د نزول په اړه دي. دې سورتونو تر یو بریده د وحي د نزول میکانیزم روښانه کړی دی او په هغو ټولو کې د انبیائو د داستان شرحه ده او دا چې په څه ډول یې له الله سره اړیکه پیدا کړه، بیان شوی دی.

د دغو شپږو سورتونو په منځ کې، د «رعد» سورت راغلی، چې ومو ویل په هغوی کې د وحی مسئله تر یوه بریده روښانه شوې، دا سورت چې له طبیعت څخه خبره کوي او د وحي د کوزولو او نزول مسئلې ته، د باران نزول او نورو طبیعي پدیدو لکه تالنده او برېښنا ته د یوې اشارې په ترڅ کې، توضیح ورکوي. په قرآن کې د فاعل او قابل له متقابله اړیکو ډېرې زیاتې نمونې لېدلی شو. خو ښایي په هیڅ یوه سورت کې دا مسئله لکه د رعد د سورت په څېر تشریح شوې نه وي. په دې سورت کې د توحید او ربوبیت د تفهیم او د هاغه کتاب د حقانیت د اثبات لپاره چې پر پیغمبر اکرم «نازل» شوی، له محسوسو او ملموسو طبیعي پدیدو لکه د باران «نزول»، په رحم کې د نطفې ځای پر ځای کونه او همدا راز له نورو سارو استفاده کوي. د سورت نوم د جو[اتموسفیر] له پدیدو اخېستل شوی دی په سورت کې سر تر پایه په طبیعي ښکارندو پورې اړوند کلیمې لېدل کیږي؛ لکه: رعد [تالنده]، برق [برېښنا]، صواعق [تندرونه، تکې]، سحاب [وریځې]، سیل [سیلاو، نیز]، جبال [غرونه]، ادویه [«دره» وادي، ناوه]، انهار [نهرونه]، رواسی [په ولاړو اوبو کې شنې شوې ګیاه ګانې]، نور [رڼا]، ظلمات [تیارې]، ظل [سبورى]، زبد [ځګ داوبو پر مخ]، زرع [کرهڼه]، نخیل [د کجوري ونه]، اعناب [انګور]، جنات [باغونه، بڼونه]، ثمرات [مېوې]، ماء [اوبه]، ارض [ځمکه]، سموات [آسمانونه]، شمس [لمر] ، قمر [سپوږمۍ] او ... تر سترګو کیږي چې ټول په طبیعت کې الهي تکویني «آیتونه»

[آیات] او نښې نښانې دي. خو الهي آیتونه یوازې په مشهوداتو او د ننداري وړ څیزونو پورې منحصر نه دي، د هغه تشریعي «آیتونه» هم چې د «کتاب» په بڼه د وحی په توسه پیغمبر ته نازل شوې دي، د نزول په کیفیت او د (فاعلیت او قابلیت) په موندلو کې له نورو آیتونو سره ورته والی او هم غبرګي لري.

د رعد سورت سره له دې چې په ظاهري توګه نوم او همدا راز نورې ډېرې اشارې یې مشهود طبیعت ته کړې دي، خو اصلي چورلیز او محور یې، د قرآن د نزول توجیه او تفهیم دی او که طبیعت ته یې اشاره هم کړې ده، له هغو یې د درک وړ، محسوس موډل په توګه استفاده کړې ده.

په دې سورت کې ۵ ځله د «انزل» فعل د هاغه کتاب په اړه چې پر پیغمبر نازل شوی دی تکرار شوی دی«...تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ وَالَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ الْحَقُّ...» «دا د [اسماني] کتاب آیتونه دي او هاغه څه چې ستا د پالونکي څښتن له لوري تاته نازل شوي دي، حق دي» [رعد ۱ (۱۳:۱)] - «أَفَمَنْ يَعْلَمُ أَنَّمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ الْحَقُّ...آیا هغه څوک چې پوهېږي، هاغه څه چې ستا د [پالونکي څښتن] له لوري پرتا نازل شوي، حقیقت لري...» [رعد۱۹ (۱۳:۱۹)] - «وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ...»«او [بله پلمه دا چې] کافران [= د پیغمبر له رسالته منکران] وايي : ولې د خپل پالونکي څښتن له لوري کومه معجزه [او نښه] پرې نازله شوې نه ده ؟..»[رعد۷(۱۳:۷) او ۲۷] - «وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَفْرَحُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ...او هغه کسان چې هغوی ته کتاب [=تورات، انجیل] ورکړل شوی [او پر خپل کتاب په ژوره توګه ایمان لري]، له هاغه څه چې تاته نازل شوي خوښي کوي» [رعد۳۶(۱۳:۳۶)]. دا شمېره چې له باقي نورو سورتونو څخه زیاته ده، د «قرآن د نزول» د مسئلې په اړه د رعد د سورت فوق العاده ټینګار او تمرکز څرګندوي، مګر د «نزل» د کلیمې له مشتقاتو یوازې یو مورد بل هم په دې سورت کې کارول شوی دی چې ځمکې ته «له آسمانه د باران نزول» او د هغه په وړاندې د دښتو او درو غبرګون ته پاملرنه لري او هېښوونکي دا چې دا مطلب په داسې ډول اداء شوی دی چې ګواکې اصلاً د قرآن د نزول د مېکانیزم او د فاعلیت او فعلیت د قانونمندۍ د تفهیم په موخه بیان شوی دی.

په لاندې توګه دا مورد او نور مصادیق یې چې د پورتني اصل د بیان لپاره په دې سورت کې کارول شوي دي نقلوو:

[د درو قدر] (۱۷) آیت: « أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَابِيًا وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ ابْتِغَاءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِثْلُهُ كَذَلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ فَأَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَاءً وَأَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ كَذَلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ.»

[الله] له اسمانه اوبه نازلې کړې [=و اورولې] په هره دره [او خوړ کې د اوربشت له تيزوالي سره] د هغوی د وړتياو په کچه نيز وبهيده، نو نيز اوچت ځګ پر سر واخست او همدغسې ځګ د هاغو ځيزونو پر مخ ، چې [ د فلزاتو د ويلي کولو په بټيو کې يې] د ګاڼو او يا نورو وزلو [لکه تبر ، تنبغ، يوم، ميتی، ټسکوره، لور او ...] جوړولو ته ويلي کوي، هم راځي. او الله تعالى دغسې د حق او باطل بېلګه وړاندې کوي؛ خو ځګ دباندې غورځي [او له منځه ځي]؛ خو هغه څه چې خلکو ته ګټور دي [اوبه يا سوچه فلز او نور رسوبات] په ځمکه کې تمېږي، الله دغسې بېلګې څرګندوي.»

د «رعد» په سورت کې لکه څنګه چې مو وويل د طبيعت موډل ته پاملرنه شوې ده چې د وحي پديده تر يو بريده روښانه او توضيح کوي. ډېر مثالونه ورکوي؛ مثلاً وايي الله تعالى له آسمانه باران نازل کړ، أَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا، دَرې [وادي ګاني، ناوې] هره يوه په خپل قدر او اندازه د باران اوبه په خپله غېږه کې نيسي او سېلاوونه جاري کوي. نو، دلته هم د فاعليت خبره ده او هم د قابليت. فاعليت له پاسه دی او قابليت له لاندې (له ځمکې). د وحی په اړه هم همداسې ده؛ الله فاعل دی او د الهامونو باران لاندې رالېږي او د انسان وجودي ځمکه اخېستونکې او منونکې ده، خو بايد وليدل شي چې زموږ د وجود ظرف، د دغو الهامونو د اخېستلو لپاره څومره وړتيا لري؟

وايي : «د هر چا بام چې څومره ارت، واوره يې هومره ډېره».

فَسَالَتْ، الله تعالى سيل جاري کوي په أَوْدِيَةٌ کې، يعنې په دَرو، وادي ګانو کې. تر کومه بريده؟ بِقَدَرِهَا، د هرې درې په قَدر، يو ښکلی تمثيلي بيان دی چې د الله تعالى له لورې تل د وحي نزول او هدايت دوام لري، خو هغه څوک دی چې ويې مني او هغه واخلي؟

په پورتني آيت کې چې د «نزول» او «قدر» دوه کليمې عيناً [لکه د قدر په شپه دقرآن د نزول په خبر] کارول شوي له قدر، کچې او اندازې، يعنې د درو ظرفيت او وړتيا [قابليت] د باران د منلو او د سيلاو د بهولو لپاره نښانه راوړې او دوه ځلې [په يو آيت کې] ټينګار کوي د اوبو پر مخ د اغزو، خس او خاشاک، بوسو او ځګ يو اړخ ته تلل د باطل له «بې قابليتۍ» يوه نښانه ده (...زَبَدٌ مِثْلُهُ كَذَلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ...) او الله دغسې د حق او باطل بېلګه وړاندې کوي؛ سيل چې جاري کېږي، غروغور او غرومبېدا لري او ډېر زيات ځګ پرې د پاسه روان وي، خو له يوې مودې وروسته ټول ځګونه هوا ته ځي او هغه چې ګټور دي [متين کونوبې] د خلکو لپاره ځای پر ځای پاتېږي: وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الأَرْضِ. د سيلاو کونوبې [رسوبات]

چې پر ځای پاتې کېږي د کروندګرۍ لپاره ډېره ګټه لري. يعنې د ګټورو رسوباتو پاتېدل د کروندګرۍ لپاره او «مکث» يې د ځمکې له مخې د هاغه سېلاب له (قابليت» او نهايي فايدې څخه يوه نښانه ده چې له درې جاري شوی دی، او دا ټول تشبيه او يو تمثيل دی د ستر حقيقت لپاره ... وَأَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ كَذَلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ.

د پديدو د ظواهرو په شا کې، ځينې امکانات ځرګنديږي او دا ځوښ او ولوله، انقلابونه او اووښتونونه چې غلي شول، هاغه اندونه يا کړنې چې د خلکو لپاره ګټور دي باقي پاتېږي. په همدې سورت کې پرله پسې وايي چې دا مثالونه دي چې الله يې ستاسو لپاره راوړي: كَذَلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الأَمْثَالَ.[رعد ۱۷ (۱۳:۱۷)] وګوره الله څه ډول مثال وهي. له دې مثال سره غواړي ټول هاغه څه چې پر ابراهيم او يوسف او يونس او هود او په ټوله کې پر پيغمبرانو نازل شوي دي ځرګند کړي. له طبيعت څخه مثال راوړي چې څه راز دا موډل تل تکرارېږي.

د همدغه «رعد» سورت په بل آيت کې، د مبندو د حمل زېږون ته اشاره لري:
[د رحمونو قدر]: اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَى وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ. [«اللّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنثَى» الله پوهيږي چې هر ښځينه موجود څه لېږدوي او د هغوی بار څه شی دی.] وَمَا تَغِيضُ الأَرْحَامُ، او هم پر هاغه څه چې ارحام [زيلانځونه] يې په خپل ځان کې جذبوي او مني، پوهيږي؛ يعنې د نطفې منلو لپاره د رحم په ظرفيت پوهيږي. وَمَا تَزْدَادُ، او هاغه څه چې رحِم يخپله هغه ته زياتوي. يعنې کومه نطفه چې اخلي او له بشپړېدو او زيادښت وروسته يې چې د ايکرګ کروموزوم [Y- Chromosome] استعدادونه هغه فعليت ته رسوي. او هغه تحولونه چې په رحِم کې بڼه نيسي په ټولو پوهيږي. وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ. دا ټول د مقدار او اندازې له مخې دي. [رعد ۸ (۱۳:۸)] يعنې د هر مؤنث رحم د هاغې نطفې «قبول» کوونکی ظرف دی چې له خپل وجود څخه خارج له يوه «فاعل» څخه يې تحويلوي، مختلف پړاوونه چې پر دې نا ځيزه ذرې تر [Genes] «جيني» پړاوه او بشپړ ماشوم تر پړاوه تېرېږي ټول يې په تکثير او توليد کې له ټاکلي «قدر» او کچې تبعيت او پليوني کوي.

په زړه پورې دا چې پورتنی آيت سمدلاسه له هاغه آيت وروسته ځای پر ځای شوی چې پر پيغمبر د ربوبي آيتونو له نزوله د کافرانو استعجاب او هېښتيا توصيفوي: «وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرٌ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ»[رعد ۷(۱۳:۷)].
هغوی خبر نه درلود چې د انسانانو روح او قلب هم د «رحم» په څېر ظرفيت، قابليت او وړتيا لري چې يوازې دهغوی د عقلي بلوغ پر مهال د پالونکي ښښتن له لورې فاعليت مومي.

[د قومونو قدر]:«... إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ...په حقيقت کې الله د کوم قوم [او ملت] حال نه اړوي [=د هغوی بد يا ښه وضعيت نه بدلوي]، مګر هغه څه چې دهغوی په نفس پورې اړه ولري [=د خپل ژوند کړنلاره او شخصيت] بدل کړي، [رعد ۱۱ (۱۳:۱۱)]»

هاغه تغيرات چې د ټولنو په سر ليک کې رامنځته کيږي په کره توګه د هغوی د کړنو او اخېستنو، يعنې ظرفيت او وړتياو سره متناسب دي. د الله فاعليت په پرله پسې توګه د ټولنو او قومونو د هدايت، سعادت او نېکمرغيو په بڼه نازلېږي. امّا د نفساني قابليتونو او وړتياو پر حساب سرليکونه تغير کوي.

په واقعيت کې، د فاعليت او قابليت ميکانيزم دی چې د «رعد» په سورت کې بيان شوی دی او دا چې الله تل فاعل دی، خو اخېستونکی او وړتيا بايد شتون ولري او يو ظرفيت لازم دی.

د وحی په مسئله کې هم همدا ډول پرله پسې د الهاماتو نور ځلېږي، خو تر هاغه چې انسان تعالي، ظرفيت او وړتيا پيدا نه کړي د الهاماتو فيض، برکت او حقيقتونه نه شي موندلی. پيغمبران هاغه انسانان ول چې ظرفيت يې درلود او ويې کولی شو د دغو پيغامونو اخېستونکی ظرف شي. لمر تل پرله پسې د ځلېدو په حال کې دی، دا موږ يو چې کله په رڼا کې او کله په تياره ژوند کوو.

د [برق او صاعقه قدر] «بريښنا او تالنده»:

[۱۲ آيت] هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ. دی [الله] هاغه [ذات] دی، چې بريښنا چې وېرونکې او د تمې پيداکوونکې ده درښکاره کوي او [هم] درنې وريځې راپنځوي. [رعد ۱۲ (۱۳:۱۲)]

[۱۳آيت]وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَنْ يَشَاءُ...

او تالنده [په خپلو لوړو ازانګو ] د هغه په حمد [او ستاينه] تسبيح کوي او [ټولې] پرښتې د هغه له ويرې [اوهيبته په خپلو اصلاحي نقشونو بوختې دي].او تندرونه[او ټکې] لېږي او د هغه په توسه[اورښت] پر هر چا چې وغواړي اوروي ...[رعد ۱۳ (۱۳:۱۳)]

په دې سورت کې له تالندې او بريښنا څخه د معنوي حقيقتونو او چارو د ځرګندولو لپاره مثال ورکوي وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ، دا تالنده او تُندر چې لګيږي او غوريږي، د الله تسبيح کوي. وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ...او الله تعالی صاعقه [تندر، ټکه] لېږي. د تالندې او بريښنا له ښکارندې څخه د صاعقې [تُندر] مثال راوړي، دې ميکانيزم ته پاملرنه چې وريځې په آسمان کې په حرکت کې دي، خو تالنده او بريښنا تل نه پېښيږي، کوم مهال چې توپان کيږي او وريځې يو تر بله منبل

کېږي او سوليږي القايي برېښنا رامنځته کېږي او تالنده او برېښنا راڅرګندېږي. د ورېځو باړې چې کوم مهال له برېښنايي ډېر ځواکمن بار [چارج] سره يو تر بله لګېږي، د برېښنا سخت پړک او سپرغۍ وهي او تالنده او برېښنا پنځوي، صاعقه [ټکه] رامنځته کېږي او ورېځ برېښنايي تشونه کوي او د لوړو ودانيو يا غونډۍ يا ونې سره په لګېدو، کله کله د ډېرو سختو ناورينونو لامل کېږي. وحی هم په خپل بهير کې، د حقيقتونو له بار سره چې لري يې، پر هغه انسان چې و کولی شي لوړشي او پورته لاړشي. نازلېږي، او الهامونه تخليه کوي. يا لکه د واورې په څېر چې پر لوړه څوکه په لوړو کې اوري او وروسته د اوړي په اوږدو کې په تدريج اوبه کېږي او ټيټو دښتو ته بهير پيدا کېږي او له هاغه څه څخه چې له ځان سره يې لري ځمکه خړوبوي. د سيلاو پر خلاف چې ټول ځيزونه په خپل لار ليک کې په ځان کې نغاړي او وړي؛ واوره پاتې کېږي او په تدريج، ورو ورو، د طبيعت د تندې په تناسب، مثلاً د شپږو مياشتو په اوږدو کې، ځمکه خړوبوي او اوبه، ځمکې ته جذبېږي. د جو او اتموسفير بدلونونه او انقلابونه چې د برېښنا له تشونې او بدلونې او د تالندې له غورا سره مل وي، د آسمان او ځمکې تر منځ له فاعلي او قابلي اړيکو څخه ارزښتناک موډل دی. معمولاً هوا د مثبت او ځمکه د منفي برېښنايي بار لرونکي ده. په عادي شرايطو کې کوم مهال چې هوا صافه ده هيڅ ځيز نه پيښېږي. خو هغه مهال چې جو انقلابي شي او د بدلون په حال کې وي او د هوا پرګنې، غونډونه او باړې د دوراني نزولي او صعودي بادونو له اغېزه، ښکته پورته کېږي، د الکتريکي سطحو د اختلاف رژيم ګډوډېږي او د باران او واورې د قطرو او د خار او خاشاک او د غاز او غبار او نورو ذرو د اصطکاک په پايله کې، مثبت او منفي بارونه په دوو لورو کې رامنځته کېږي او الکتريکي تخليه چې برېښنا نومول کېږي د تالندې له غورا سره بڼه نيسي. د رعد او برق [تالندې او برښنا] له پيښېدو وروسته د باران، دانه بندۍ بېره ناکې اوځواکمنېږي او تېز شړکنده باران اوري.

تالنده او برېښنا [رعد او برق] په آسمان کې پيښېږي او نبغ په نېغه له ځمکې سره اړيکه نه لري خو که برېښنا ځمکې ته تخليه شي هغه ته «صاعقه» [ټکه يا تندر] وايي. نو پر دې بنا صاعقه يوه داسې پديده يا ښکارنده ده چې آسمان او ځمکې دواړو پورې اړه لري په داسې حال کې چې برېښنا يوازې جوّ پورې د اړوندو طبقو له يو بل سره، له ټکر څخه حاصلېږي. کوم مهال چې د ورېځو باړې له انقلابي حالت سره د يوې سيمي پر سر راځي، د هوا د ډېرو سختو تپل شوو ذرو د مثبت الکتريکي بار د سطحو او د ځمکې د منفي بار تر منځ سخت شديد اختلاف رامنځته کېږي او په هاغه نقطه کې چې د آسمان او ځمکې تر منځ تر ټولو لنډه واټن وي، الکتريکي تخليه

بڼه نيسي او د سور اور بهير د صاعقې [تکې يا تندر] په بڼه پر هغې نقطه لګيږي معمولاً آسمانڅکې مانۍ، لوړې ونې يا اوچتې غونډۍ، په ځانګړې توګه که هوا اوبلنه، نمجنه او لمده وي ډېرتر د برېښنا له تخليې سره مخامخ کيږي.

پورتني پيليز توضيحات ددې لپاره ول چې لومړی د آسمان او ځمکې تر منځ فاعلي او قابلي اړيکي روښانه شي، دويم دا چې له دغه علمي پيژندل شوي محسوس موډل څخه د ناپيژندل شوې پديدې «وحی» د پوهيدلو لپاره استفاده وکړو. په لومړي مورد کې مو وليدل چې آسمان د مثبت الکتريکي بار او ځمکه د منفي بار لرونکي دي. چې په عادي شرايطو کې کومه تخليه او تبادله له بره کوز لور ته سر ته نه رسيږي.

خو د کال په ځانګړو مهالونو [خصوصاً د پسرلي او مني فصلونه] چې هوا د طبيعي تحولونو له لامله بدليږي او منقلبه کيږي. تل رعد او برق سر ته رسيږي او د ځمکې لوړو نقطو او څوکو سره د برېښنا د جريان لګېدل [صاعقه] تل شوني دي، په دې حالت کې د وريځو ډېرۍ او بارې د خپلو الکتريکي بارونو مقناطيس پر هاغه لوړه نقطه يا څوکه تخليه کوي.

اتفاقاً د وحی او نبوت  بهير هم له همدې لړۍ څخه دی، د وحی آسمان د مثبت هدايتي بار لرونکی دی، ځمکنيان له ظلم، ويجاړۍ او بې لارۍ سره منفي بار تشيلوي، په عادي شرايطو کې کوم تغير او تحول سر ته نه رسيږي. خو په ځانګړو مهالونو کې لکه د رمضان مياشت يا د قدر پر مهال [لکه د پسرلي يا مني د فصلونو په څېر] د شرايطو او روحي تحولونو او نفساني انقلابونو د چمتو کېدو له لامله چې د يوې مياشتې روژه توب او د نفس له تزکيې، دوعا او تقربه حاصليږي، د انسان په معنوي جوّکې تل د هوښيارۍ او بېدارۍ څرکونه جرقې، او څرېکې وهي او د لوامه نفس د تالندې غورا پرله پسې د هغه د زړه غوږونه تخنوي او لړزوي.

په دې حالت کې د هدايت د بار ليږدوونکی استازی [جبرائيل] لکه د وريځې د بارو او غونډوونو په څېر چې د الکتريکي تخليې لپاره د ځمکې د لوړترينې نقطې او لنډ ترين واټن په لټه کې دی، د هاغه «مقرب» ترين په لټه کې دی چې د آسمان لور ته يې ډېر اوچتوالی کړی وي او د ځان د پورته کېدو له لامله تر آسمانه ډېر لنډ واټن ولري، چې خپل هدايتي بار د هغه پر قلب تخليه [القاء] کړي او د هغه دننه له الهي برېښنوونکي نوره لکه د صاعقې په څېر روښانه کړي. په دې حالت کې د ځمکې او آسمان له ټرون سره د «وحي» بهير بر قرارېږي او د ځمکې تر ټولو لوړه څوکه د آسمان پيغامونه دښتو او درو ته ابلاغوي.

ډېره غوریالې او ظریفه نکته چې د تالندې [صاعقه] پورې اړوند آیت [...وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَنْ يَشَاءُ وَهُمْ يُجَادِلُونَ فِي اللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ الْمِحَالِ] کې شتون لري، لومړی د «یرسل» [لیږي] له کلیمې استفاده ده چې کټ مټ د وحی د پرښتو په اړه کارول شوې ده «...يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ ...»[شوری ۵۱(۴۲:۵۱)] د «یرسل» مضارع فعل سره مل په قرآن کې عمدتاً د باد، باران او توپان او استثناءً د وحی او پرښتو په اړه کارول شوی دی او هېڅ کله د پیغمبرانو په اړه نه دی راغلی. دویم یې د «من یشاء» جمله ده چې انسان او ذیشعوره موجوداتو پورې اړه لري. په داسې حال کې چې صاعقه په لوړو مکانونو لګیږي نه پر وګړو! داسې بریښې د انسان د پښې راکښل د داسې آیت په منځ کې چې صاعقې او ځمکې ته د وریځې د الکتریکي بار په تخلیې پورې اړه لري، ښایي یوه نښانه وي په دغه آیت کې د تدبر لپاره، او د دوو پدیدو صاعقې او وحی تر منځ پرتله وي چې هر دواړه له یوې ربوبي منشأ سرچینه نیسي. سربېره پر دې، د پورتني آیت پای [... و هم یجادلون فی الله...] هم د پاملرنې وړ ده. ځکه چې د کفارو جدال د خدای په اړه د صاعقه له لامله نه دی، بلکې د وحی او د هاغه کتاب له لامله دی چې لکه د صاعقې په څېر د جبرائیل په توسه نازل شوی دی. پر دې بنا د آیت په پای کې په بربښنده توګه څرګندیږي چې د«صاعقې» د مسئلې له طرحې څخه موخه د څه څیز د اثبات لپاره ده؟ یعنې موخه یې د وحی د اثبات لپاره ده.

د آسمان او ځمکې تر منځ فاعلي او قابلي اړیکې په مختلفو سطحو او بعدونو کې سر تر پایه برقرارې دي. دا سمه ده چې وریځ او باد، تالنده او بریښنا په آسمان پورې اړوند دي، خو لومړی داچې له ځمکې پورته کیږي. دویم دا چې خپل محصول ځمکې ته رسوي. وحی او نبوت هم همدا ډول دی، دا سمه ده چې له پورته ښکته لور ته نازلیږي، خو تر څو چې په ځمکه کې هڅونه او «بعثت» واقع نه شي او مناسبه او مساعده زمینه او شالید رامنځته نه شي. هیڅ څیز له پورته نه نازلیږي [د اذن معنا]، اما اصالت هم له ځمکې سره نه دی، ځکه چې ددې تحولونو منشأ لمر دی چې د نور په لګېدو یې دا تحولونه او انقلابونه را منځته کیږي. الهي رحمت هم د څیزونو د حیات او حرکت [ژوند او یون] منشآ او سرچینه ده.

په پورتنۍ تشبیه اوتمثیل [انځورنه] کې، چې د دوو پدیدو محسوس او نامحسوس تر منځ پرتله ده، صاعقه د وحی د امین نقش لري چې د امانت بار باید د ځمکې په لوړه څوکه تخلیه کړي، آسمانځکې د اخېستونکي [نیوونکي] پیغمبر رول لري، ځمکنی آسمان د سقف المرفوع او د هاغه بیت المعمور نقش لري چې ام الکتاب هلته دی او وحی له هاغه آسمانه نازلیږي، خاورینه

ځمکه له منفي الکتريکي بار سره د مادي دنيا او د ژمنې او مسئوليت د نفي کوونکي انګېزې نقش لري، د پسرلي يا مني فصل د رمضان د مياشتې نقش لري چې د قرآن د بهار په نامه نومول شوې، د برق جريان د وحی نقش، او .....

دا د طبيعت او نبوت تر منځ يو قياس دی. پيغمبر هم د قدر په شپه څه حقيقتونه واخېستل او په وجود کې يې زېرمه کړل او تدريجاً ورو ورو يې د درويشتو کلونو په اوږدو کې د خلکو په واک کې ورکړل. په واقعيت کې د طبيعت نمونې او موډلونه له موږ سره مرسته کوي چې پوه شو د الهامونو جوړښت څه ډول دی او څه رنګه پېښيږي.

## د نزول يا انزال او تنزيل توپير

خو د «نزول» او «تنزيل» د توپير په اړه چې مخکې مو وويل، په اجمالي توګه «نزول» يعنې ناڅاپه او په کلي توګه راکوزېدل؛ لکه د هاغې واورې په څېر چې د څو ساعتو پرله پسې اورښت وروسته پر لوړې څوکې پرېوځي. خو «تنزيل» يعنې په تدريج نازلېدل او کوزېدل. لکه د هماغه د څوکې د واورې په څېر چې د څو مياشتو په اوږدو کې اوبه شي او راکوزي شي او وچه دښته خړوب کړي، قرآن هم حقيقت يې دفعتاً يو ځلي د قدر په شپه پر پيغمبر نازل شو؛ لکه د يو فکر په څېر چې د ليکونکي ذهن ته راشي چې دې ته اړتيا لري په يوه مياشت کښې صفحه په صفحه هغه وليکي. هاغه فکر چې د يو انجينېر يا مهندس په ذهن کې دی، په پيل کې د اجمال او کليت بڼه لري چې که وغواړي د عمل بڼه ونيسي او د اجراء حالت غوره کړي، بايد ټولې نقشې يې له ټولو برخو سره بېلې او وټاکلې شي. د وحي حقيقت او کليات هم د پيغمبر پر ذهن د قدر په شپه کې نازل شو خو د هغه د جزئياتو ظهور داجراء لپاره د درويشتوکلونو په اوږدو کې تداوم وموند.
لکه څنګه چې پوهېږو د غره څوکه چې آسمان ته نژدېتره ده هم برېښنا رانيسي او هم واوره پرې ډېره اورېږي، کوم باران چې د پسرلي په فصل کې په هر ځای اوري، ښايسته ډېره کچه يې د واورې او يخ په بڼه د غرونو په څوکو کې زېرمه کيږي چې د دوبي د تودوخې او د دښتو د تندې پر مهال په تدريج د چينو او کارېزونو په بڼه څرګندېږي او طبيعت ژوندی، تازه او زرغون ساتي، هاغه اورښت چې په تدريج اوري او هاغه واوره چې زېرمه کيږي که په يو ځلي اورېدلی، ټول څيزونه به يې په خپل غړاند او وېجاړونکي سېلاو له منځه وړلی او په وچ اوړي کې به هيڅ خوځنده باقي نه پاتېدی.

د قرآن د نزول او تنزيل بهير هم پر همدې قرار دی. قرآن لکه د درندې واورې په څېر چې د منې يا ژمي په يوه انقلابي شپه کې د غره پر لوړه څوکه پرېوځي، د قدر په شپه کې د پيغمبر پر

سپېڅلي قلب راکوز شو «إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا»«موږ به ډېر ژر درنده وينا پر تا القاء کړو»[مزمل ۵ (۷۳:۵)]. دا د نزول پړاو دی چې يو ځلي او په ناڅاپي توګه يې بڼه ونيوله او د قرآني هدايت اصول يې د پيغمبر پر اندېښنه باره کړل چې د مسلمانانو د چمتو والي، منلو او وړتياو او د شرايطو د برابرېدو او د نزول د شأن پر بنسټ د راتلونکو ۲۳ کلونو په اوږدو کې، سورت سورت او آيت آيت لکه د چينې په څېر چې د دښتې د اړتيا په تناسب بهيږي، نازلېږي. دا هماغه د تنزيل پړاو [د تفعيل له بابه] [=تدريج] دی چې البته د وحی د هماغه امين په مرسته نازلېده. لکه څنګه چې د غره په څوکه کې ډېرې شوې واوره په خپله خوښه او اختيار نه جاري کېږي بلکې د هوا د تودوالي زياتېدل او د لمر لګېدل واورې اوبه کوي.

يا داسې ويلی شو چې قرآن پر پيغمبر اکرم (ص) دوه ډوله نزول درلود يا په بله وينا ويلی شو چې «دوه ځلې نزول يې درلود» چې دا هم په دې معنا دی چې دوه ډوله نزول لري: يو نابېره په يو ځلي نزول يا اجمالي نزول، او بل تدريجي نزول يا زماني او تفصيلي نزول. يا په بل عبارت يو اجمالي يا غير زماني نزول دی او بل زماني تدريجي تفصيلي نزول دی. که د عربي ژبې د اصولو پر مبنا د نزول کليمه وڅېړو نو د عربي د قاعدې له مخې د «نزول» کليمه په دوو بابو کې راغلې ده يو د « اِفْعال» د باب په صيغه [انزال ـ اَنْزَلْنَاهُ]، او بل د «تفعيل» د باب په صيغه[تنزيل ـ نَزَّلْنَاهُ]. ددې دوو صيغو توپير دادی چې «اَنْزَلْنّاه» [انزال] په هغه ځای کې ويل کېږي چې يو څيز دفعتاً نازل شوی وي،او« نَزَّلْنَاهُ»[تنزيل]غالباً په هغه ځای کې ويل کېږي چې نزول تدريجي وي.

د قرآن په آيتونو کې، هم د باران په اړه او هم د کتاب په اړه هر دواړه حالتونه بيان شوي دي. يعنې داسې برېښي چې باران له تدريجي حالت سره چې لري بايد د تنزيل فعل [د تفعيل له بابه] د هغه په اړه کارول شوی وي، خو عملاً داسې نه دی بلکې د سورت د نظم او سياق او د هاغو آيتونو د موخې پر بنسټ چې دې پديدې ته يې اشاره کړې، کله د باران تدريجي اورېدنه چې د ګياګانو د ټوکيدو لامل کېږي تر نظر لاندې دی (تنزيل) او کله د باران اصل اورېدنه د هغه د نزول له کيفيته پرته (انزال).[تصادفاً د تنزيل(تدريج) له فعل سره يوازې ۱۰ ځايه په قرآن کې د باران تدريجي اورېدو ته اشاره شوې ده او نور ځايونه(له ۲۰ ځلو څخه زيات) يې ټول د انزال له فعل سره دي.]

همدا مسئله د قرآن په اړه هم ريښتينې ده چې په لاندې توګه هر دواړو شاليدو پورې اړوند ځينو آيتونو ته اشاره کوو:

د باران نزول

تدريجي
وَالَّذِي نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَنْشَرْنَا بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا [زخرف ۱۱ (۴۳:۱۱)]
وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ [انفال ۱۱ (۸:۱۱)]

نابېره يوځلي
أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا [رعد ۱۷ (۱۳:۱۷)]
وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ [ابراهيم ۳۲ (۱۴:۳۲)]

د قرآن نزول

تدريجي
تَنْزِيلُ الْكِتَابِ مِنَ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ [جاثيه ۲ (۴۵:۲)]
وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَى مُكْثٍ وَ نَزَّلْنَاهُ تَنْزِيلًا [اسراء۱۰۶ (۷:۱۰۶)]

نابېره يوځلي
وَبِالْحَقِّ أَنْزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ [اسراء ۱۰۵ (۱۷:۱۰۵)]
شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ [بقره ۱۸۵ (۲:۱۸۵)]

له دې سره سره ددې نکتې ذکر ضروري دی چې د قرآن انزال په لازمي توګه د ټول قرآن د ناڅاپي نزول معنا نه لري، بلکې کېدی شي د يو سورت يا يو آيت نزول هم د «نزل» له فعل سره مشخص شي «سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا وَأَنْزَلْنَا فِيهَا ...»[نور ۱ (۲۴:۱)]

## په تکوين او تشريع کې د پرښتو نقش:

هاغه پرتله چې د دوو محسوسو او نامحسوسو پديدو [د باران د نزول او د کتاب د نزول] تر منځ وشوه او تشبيه او تمثيل چې د رعد سورت په مرسته وشو، چې محور يې د وحی او قرآن د نزول د حقانيت اثبات د طبيعي آيتونو او شواهدو له طريقه دی، سره له دې چې کېدای شي غير متجانس او نا اړين برېښېدلي وي، خو دا د تجانس نه شتون د دوو پديدو په ظاهر پورې اړه لري، خو که منشأ ته يې ور وګرځو، د پرښتو راز راز نقشونه وينو چې پر عالمونو يې يو شان قوانين واکمن دي. کېدی شي هغوی ټول ارسال، انزال او امداد او .... ولري، خو بڼه او طريقه يې يو له بله توپير کوي لکه څنګه چې د باران نزول د کتاب له نزول سره تفاوت کوي.

سره له دې چې په قرآن کې له رمزي اشارو څخه پرته [له هغې جملې د فاطر سورت ړومبنی آيت «الْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ جَاعِلِ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا أُولِي أَجْنِحَةٍ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ...» له آسمان او ځمکې څخه د رحمت او رزق پورې اړوند آيتونو په سريزه کې «يرزقکم من السماء والارض»]، په باد او باران او جوّي پديدو کې د پرښتو نقش نه وينو، خو په هاغو آثارو او حديثونو کې چې له رسول

اکرم او د هغه له اصحابو او اهل بيته رسېدلي دي، ددې مسئلې په اړه څرګندې نښې کتلی شو. په لاندې توګه په دې اړه له نهج البلاغه څخه ځېنو هسکو هغو ته اشاره کوو چې په څرګنده توګه د پرښتو نقش په طبيعي پديدو کې د هڅوونکو لاملونو او پاروونکو ځواکونو په عنوان وينو: د نهج البلاغه ۹۰ امه خطبه ۳۲ بند د پرښتو په ستايلو کې: و منهم من هو فی خلق الغمام الدَّلح ( ځېنې له هغوی له بارانه ډکو درنو وريځو په رامنځته کولو بوخت دي) و فی عظم الجبال الشمخ (او ځېنې نور يې په سترو لوړو غرونو کې) و فی قتره الظلام الايهم (او ځېنې نور يې د تيارو په تورتم کې) و منهم من خرقت اقدامهم تخوم الارض السفلی، فهی کرايات بيض قد نفذت فی مخارق الهواء ( ځېنو د هغوی پلونو يې ځمکه سورې کړې د ځمکې ټيټ ترينې هستې ته رسېدلي [د جاذبې ځواک!؟] او قدمونه يې سپينو نښو ته ورته دي چې د آسمان د جو په تشه کې ننوتي) وتحتها ريح هفافة تحبسهاعلی حيث انتهت من الحدودالمتناهيه (او تر لاندې يې د باد مثله ځواک نری او سپک او د اوبو له بخاره تش دی) ( سحاب هفٌ : رقيق لا ماء فيه) (چې هغه يې [د جاذبې قوه؟] په داسې حد او بريد کې چې پراختيا يې موندلې ساتلی دی...) و ليس فی اطباق السماء موضعُ اهابٍ الا عليه ملک ساجد اوساعٍ حافذ ( د آسمان په طبقو کې حتا د يوې ښکې په کچه تش ځای پرته له کومې پرښتې چې د سجدې په حالت کې وي يا په بېړه او هڅه د يو کار په سرته رسولو کې وي، نه شته.

## ولې د قدر شپه؟

هرو مرو به مو اورېدلي وي چې وايي د قدر شپه د رمضان د مباشتې يوويشتمه يا درويشتمه يا اوه ويشتمه ده. خو په سمه توګه معلومه نه ده چې د قدر شپه کومه يوه ده. نولسمه، يوويشتمه، درويشتمه، اوه ويشتمه؟ دې هرې يوې شپې ته يې اټکل ورکړی دی. کابو ځلوېښت مختلف روايتونه يې په اړه بيان شوي خو د ډېريو علماؤ په رايه د رمضان د مباشتې له اولسمې شپې څخه ددې مباشتې تر پايه په ځانګړې توګه طاقو شپو ته يې اټکل ورکړی دی. په صحيح مسلم او بخاري کې راغلي دي چې پيغمبر(ص) فرمايلي دي: [«تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِىْ الْعَشْرِ الْاَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ» د قدر شپه د رمضان په وروستۍ لسيزه کې ولټوئ]. همدا راز په صحيح مسلم او بخاری کې راغلي دي:[«مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ اِيْمَانًا وَ احْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» هاغه څوک چې د قدر په شپه له ايمان او اخلاص سره ويښ پاتې شي ټول تېر ګناهونه يې ښښل کيږي].

اسلام يوازې د ظاهري ښې پر ښنسټ نه دی، له دې لامله د الله رسول(ص) په دې شپه کې د ويښ پاتې کېدو په اړه ويلي « اِيْمَانًا وَ احْتِسَابًا» [له ايمان او اخلاص سره]. يعنې چې دا راز ويښ پاتې

کېدل د هاغو سترو مفهمومونو او معناو د ژوندي ساتلو لپاره وي چې په دې شپه کې نغښتي دي، کله چې له ایمان سره بښه ونیسي او «خالصانه» د خدای لپاره سرته ورسیږي ... همدا لامل دی چې له دې وېښتیا او رڼې شپې سره، په زړه کې یو جوت او معین حقیقت په غورځنګ راځي. داسې یو ټاکلی او معین حقیقت له هاغې معنا سره چې قرآن یې زېری ورکړی پیوند او اړیکه لري.

اسلامي روزنېزه کړنلار، د عبادت او ایماني او عقیدتي حقیقتونو تر منځ په زړه او دننه باطن کې اړیکه او پیوند ورکوي، او عبادت د دغو حقیقتونو او د هغوی د روښانه کولو او څرګندولو لامل جوړوي، په داسې ډول چې دا حقیقتونه د عقل او شعور په پرده، پرده کې ننوځي او لار وباسي، او په آګاهانه توګه و بریښي او څرګند شي، او یوازې د اندني په حد او برید کې پاتې نه شي. له دې ټولو سره سره که د قدر شپه د رمضان په مباشت کې ثابته شپه هم نه وي. په هر حال کې دا مهمه ده چې پوه شو اسلامي امت او روژه تیان په دې مباشت کې خپل ځان چمتو کوي چې خپلې اړیکي له الله تعالی سره ځواکمنې، زیاتړې او نژدېترې کړي. په دې شپو کې معمولاً مسلمانان د قرآن تلاوت کوي، دوعا کوي، او دا ټول الله ته د نژدیتر کېدلو او د اخلاقو او معنویاتو لپاره سرته رسوي. په بله وینا، د رمضان په مباشت کې تر نورو مهالونو تل زیات چمتووالی شتون لري؛ چې د الله او خلکو تر منځ پیوند، تړون او اړیکه رامنځته شي، او پیاوړی شي. په دې میاشت کې وګړي په اوچت تره لوړتیا کې ځای نیسي. دا میاشت د پسرلي یا مني له فصل سره ورته والی لري چې د جوّ او هوا د بدلون موسم دی، په دې فصل کې توپان او د وربځو د غونډونو او بارو ښکته پورته کېدل زیات پېښیږي او اورښت ډېر زیات دی. د روژې په میاشت کې هم چې؛ له یو لوري د معنویاتو جوّي شرایط برابر دي، له بل لوري له دغو شرایطو څخه برخمن کېدو ته چمتو انسانان ډېر زیات دي. نه داچې ټول ددې امکانات ولري، چې حقیقتونه واخلي؛ هغوی چې اوچت تر او ځواکمن دي، موندونکي دي. هغوی حقیقتونه درجه په درجه او پړاو په پړاو اخلي او خلکو ته یې لېږدوي؛ سمدم لکه د علمي مسئلو په څېر. مثلاً یو نیوتن یا یو اینشتاین پیدا کیږي او کومې علمي مسئلې یې چې موندلې، خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. او البته په پای کې ټول بشریت ترې برخمن کیږي.

اما ولې د قدر په شپه کې او نه په ورځ کې؟ سره له دې چې له هغې شپې وروسته، څو ځله په ورځ کې، هغه مهال چې پیغمبر به په سفر کې یا حضر کې وو، یا د جنګ پر مهال کې، وحی به پرې نازلېدله. ظاهراً هاغه څه چې د قدر په شپه کې پېښ شول، له کلونو وروسته د پیغمبر اوږده ویښه شپه ده. له هغې وروسته هم پیغمبر ته په ځلونو فرمان ورکړل شوی دی، چې د شپې یوه

برخه ويښ پاتې شي: وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ، او د شپې په يوه برخه کې [سربېره پر پنځګونو لمونځونو] لمانځه ته ويښ اوسه، نَافِلَةً لَّكَ، دا نافله[= اضافي تکليف] دی ستا لپاره، د ځان پهګټه په خپله خوښه په رضا کارانه توګه، عَسَى أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا. هيله ده پالونکی ښبنتن دې محمود [او ستايل شوي] مقام ته پورته کړي [او وګوماري].[اسراء ۷۹ (۱۷:۷۹)]
يعنې ستا روح او روان جوړ شي او وده وکړي. په ورځ کې دومره وخت نه وي، سرې د خپل ورځني ژوند مسئلو پسې وي او د تمرکز فرصت نه لري. نه شي کولی له ځان سره خلوت وکړي. خو له دوه درې ساعته خوب وروسته، که توفيق ولري او ويښ شي، يو فرصت که څه هم نيم ساعت وي، يوساعت، لږووډېر، له خپل ځان سره د خلوت لپاره مومي. پيغمبر اکرم به د شپې دوه دريمه برخه يا نيمايي برخه ويښ وو. زموږ لپاره داهم فرصت دی چې بايد غنيمت يې وګڼو. د ورځني کار د ستړيا له لېرې کېدو وروسته، چې ذهن خالي شوی وي، کولی شي په متمرکزه بڼه د خپل سرنوشت په اړه او د خپل خالق په اړه فکر وکړي. پيغمبر ته خطاب شوی؛ چې موږ به ډېر ژر ډېره درنه وينا پر تا القاء کړو؛ نو د شپې يوې برخه کې پاڅېږه، دوه دريمه برخه د شپې يا نيمايي شپه، لږ يا ډېر، او خپل خدای ته مخه کړه. په «مزمل» او «مدثر» سورتونو کې راغلي دي چې د ربّاني الهامونو د موندلو د چمتووالي له لارو، يوه هم شپېني ځانګړي تمرکزونه دي. همدا لامل دی چې د لومړنۍ وحي نزول، عمدتاً په شپه کې د پيغمبر د فوق العاده تمرکزونو پسې رادمخه شوی دی.
لکه څنګه چې تاريخ شاهدي ورکوي، د قرآن تدريجي نزول د ۲۳کلونو په اوږدو کې، په ډېرى توګه په ډېرو موردونو کې د ورځې په ساعتونو کې سرته رسېدلی او د حضرت رسول اکرم اصحابو، هاغه حضرت له فوق العاده دروندوالي سره چې د خولو بهېدل ورسره ملې وې لېدلی دی. خو د قرآن په صراحت او وضاحت د قرآن ناڅاپي نزول(ټول د هغه په اجمالي بڼه يا د هغه کُلّي روح) د رمضان د مبارکې مياشتې په يوه شپه چې د قدر شپه نومول شوې، شوی دی.
«إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ»: ان او د «نا» د فاعل ضمير تکرار د انزل د فعل د تخصيص، تعظيم او تأکيد لپاره، او جمع يې د وسائطو مبادي ته د نسبت لپاره دی او مفعول ضمير يې، قرآن ته له نسبت پرته چې زمونږ د ټولو په اند او ژبه جاري دی بل کوم څيز نه شي کېدی: په تحقيق سره موږ قرآن [د بشري اند او فکر له دخالته پرته] په يوه خاصه او ځانګړې شپه [دقدر په شپه] کې نازل کړ. د «انزل» فعل او د مفعول ضمير چې بشپړ قرآن ته راجع دی او د فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ظرف دا څرګندوي چې قرآن پشپړ په يو ځلي د قدر په شپه کې نازل شوی دی. چون د قرآن يو ځلي او په يوه شپه کې نازلېدل د مسلمانانو له هاغو پرله پسې آيتونو او روايتونو او سيرت سره منافي دی

چې د قرآن آيتونه د درويشتو کلونو په موده کې نازل شوي دي، نو ځکه ځينو ويلي چې د قرآن پورې اړوند ضمير د هغه د نزول د پيل په اعتبار دی. دا توجيه د آيت له تعبيرونو سره مخالفه ده او که د خبر مقصد د قرآن د نزول له پيل څخه وای د «من ليلة القدر» تعبير مناسبتر برېښېده. له هاغو آيتونو څخه چې قرآن او د هغه نزول تعريف او توصيفوي، په څرګنده توګه ښکاري چې؛ قرآن په دوو مشخصو بڼو او په هر دواړو ځلونو نازل شوی دی: لومړی د بسيط، جمع او په راټول نزول او بڼه. دويم په پرانېستي، تدريجي او تفصيلي بڼه. هغه آيتونه چې د انزال له لفظ او له مشتقاتو سره يې راغلي چې په دفعتاً «يوځلي» نزول کې برېښي او يا د وخت په تصريح او څرګندونه په خاص او محدود زمان کې نازل شوي، په لومړنۍ بڼې د نزول پورې اړوند دي: «حم. وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ. إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ... حا، ميم سوګند [او لوړه] پر دې [روښانه] بيانوونکي کتاب. چې موږ دا په يوې برکتناکې شپې کې نازل کړی...»[دخان۱ (۴۴:۱) تر ۳]، «شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ...» «د رمضان مياشت هاغه ده چې قرآن پکې نازل شوی دی. د خلکو [د پرګنو] لپاره هدايت دی او له هدايته[پر مختللي] څرګندوني [لري] او توپيروونکي کنډه ده... » [بقره ۱۸۵ (۲:۱۸۵)].

او هغه آيتونه چې د تنزيل له لفظ او د هغه له مشتقاتو سره راغلي پر تدريجي نزول دلالت کوي، د قرآن د نزول په دويمه بڼه او تفصيلي نزول پورې اړوند دي او دې ډول کې کوم خاص زماني ظرف قيد شوی نه دی. د بني اسرائيل ۱۰۶ (۷:۱۰۶) آيت پر دغه تدريجي او تفصيلي نزول صراحت لري: [وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَى مُكْثٍ وَنَزَّلْنَاهُ تَنْزِيلًا] «او موږ قرآن ټوټه ټوټه [بېل بېل] کړی دی، ددې لپاره چې ته دا خلکو ته په آرام (او وقفې) سره تم تم ولولې او موږ دا په تدريج نازل کړی دی په څه ورو ورو نازل کوني». او د هود ۲ (۱۱:۲) آيت هم د قرآن د له دواړو بڼو او دوو ځلونو جامع بيان لري [الر كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ] «الف، لام، را، (دا) کتاب دی چې آيتونه يې محکم کړی شوي دي، وروسته بيا د ښه حکمت والا، پوره خبردار ذات لخوا پرانيستې تفصيلي بيان شوي دي».

نو پر دې بنا د کتاب او قرآن په اړه اشارې، موضوع ګانې او ستاينې چې په دې قرآن کې مکتوب او ملفوظ راغلي [ـ لکه: ذَلِكَ الْكِتَابُ ـ كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ـ فَصَّلْنَاهُ عَلَى عِلْمٍ ـ جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا] بايد د هاغه اعلى مرتبه او له تفصيله مخکې قرآن په اړه وي او د نورو اټکلونو او بحثونو لپاره ځای نه پاتې کېږي. او هغه هماغه د ام الکتاب لوړه پوړۍ ده چې تفصيلونه ترې راوتلي دي او په مختلفو مهالونو او مناسبو اوضاعو او پېښو کې يې تنزل موندلی دی: «وَإِنَّهُ فِي أُمِّ الْكِتَابِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ او بېشکه ددې قرآن [اصل] په اُمّ الکتاب کې له موږ سره ډېر لوړ

پوهېږی، محکم او استوار دی.» [زخرف ۴ (۴۳:۴)] او په لوح کې د زماني له تأويل او اغيز څخه محفوظ او له ټېټو درکونو او ککړو اندونو څخه پټ دی: «بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَجِيدٌ فِي لَوْحٍ مَحْفُوظٍ هوکې، دا [وينا يا لېکنه] ډېر پرتمين قرآن دی. په [داسې] لوح کې [نقش دی چې] محفوظ دی» ـ [بروج ۲۱ (۸۵:۲۱) او ۲۲]، «إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ ـ فِي كِتَابٍ مَكْنُونٍ ـ لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ ـ تَنْزِيلٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ بېشکه دا يو ډېر اوچت ارزښتناک قرآن دی، په پټ ساتل شوي کتاب کې، چې له پاک شوو [او سپېڅلو] پرته، د هغه [حقيقت] نه شي موندلی.»[واقعه ۷۷ (۵۶:۷۷) تر ۸۰].

نو په اِنَّا اَنْزَلْنٰاه کې د انزلناه ضمير قرآن ته اشاره لري، او داسې برېښي چې: غواړي ووايي ټول قرآن مو د قدر په شپه په يو ځلي نازل کړی، نه يو څه برخه او بعضې له آيتونو، ځکه له دې لامله چې تعبير يې په انزال کړی او ترې جوتېږي چې يو غونډ او يو ټوټه والی يې څرګندوي، نه تنزيل چې په تدريجي نزول دلالت کوي.

داسې برېښي چې د وحی ړومبنيو انوارو د رجب په اوه ويشتمه نېټه چې د پيغمبر د بعثت د ورځې په نامه يې پېژنو په ځلېدو پيل کړی دی، خو مجموعه او ټول يې هاغه څه چې د «ه» له مبهم او مرموز ضمير سره معرفي شوی دی: [إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ(۹۷:۱)،إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ...(۴۴:۳)]، او د (قرآن)د لوستلو وړ جنبه د«قدر» په شپه کې په هماغه کال يا درې کاله وروسته (د فترت له دوران څخه وروسته) د پيغمبر له وېښو شپو تېرولو او ځان جوړونې وروسته چې د هغه د قلب د تثبيت لامل شوي دي، ښايي نازل شوی وي. دا مطلب د مزمل سورت لومړنيو آيتونو کې، چې ګواکې پر پيغمبر له لومړنيو نازل شوو آيتونو څخه دي، د دوعا او لمانځه لپاره د شپېنۍ قيام له فرمان وروسته بيانوي:

«يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ، قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا، نِصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا، أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا، إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا، إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا، إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا. ای پر ځان جامه تاو کړيه، د شپې [د عبادت لپاره] پاڅه، پرته له لږې [برخې د هغې]. نيمايي له هغې، يا لږ څه له هغې [نيمايي] کم کړه، يا پر هاغې [نيمايي] ورزيات کړه او [په دې مهال کې] قرآن په غور، تم تم، څرګند ولوله. موږ به ډېر ژر درنده وينا پر تا القاء کړو بې له شکه د شپې عبادت ته پاڅېدل د محکمو ګامونو د ابښودو او [په ورځ کې] د استوارې [او پايندې] وينا لامل کيږي. بېشکه تاته په ورځ کې ډېره اوږده هڅه [او بوختيا] وي.»[مزمل۱ (۷۳:۱) تر۷] له شپېنيو ساعتونو څخه په نيمايي [کابو ځلورو ساعتونو] کې، د عبادت او قرآن[هاغه لومړني

آيتونه چې نازل شوي ول]د ترتيل لپاره ويښ پاتېدل، د هاغه «دروند قول» د مونډلو لپاره چې ډېر ژر به القاء شي، د چمتو کېدو په خاطر وسيله او سريزه ده. ځکه هغه څه چې د شپې رامنځته کيږي د قدم ثبات او د وينا ټيکاو دی چې زياتره او په ښه توګه د شپې پر مهال څرګندېږي. په داسې حال کې چې ورځ د اوږدې هڅې (معاش) مهال دی.
لکه څنګه چې مخکې مو ورته اشاره وکړه، همدغه ډول مطلب د اسراء سورت په ۷۹ آيت کې په بل ډول بيان شوی دی چې وايي شپېنی تهجّد د معنوي استعدادونو د پارېدو او غوړېدو لپاره يوه وسيله ده.

له پورتنيو توصيو سره سره، په قرآن کريم کې نور ځايونه هم وينو چې پيغمبر نبغ په نبغه د نيمې شپې د تسبيح او لمانځه فرمان مونډلی دی:
«وَمِنَ اللَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا او له شپې څه برخه يې په درشل کې سجده وکړه او اوږده شپه يې تسبيح وکړه»[انسان ۲۶ (۷۶:۲۶)] «وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ او [هم] د شپې يوه برخه، او [همدا راز] تر سجدو پسې د هغه تسبيح وکړه.» [ق۴۰(۵۰:۴۰)].

او خومره په ښه توګه او مينه، پيغمبر دې فرمان ته غاړه کېښوده تر دې بريده چې د خپلې بيدارۍ په کارنامه يې د منښت او تأييد مهر ومونډ او ور او ښايسته مقام ته اوچت شو. د مزمل سورت وروستنی آيت چې ګواکې د سورت له نورو آيتونو سره په زيات زماني واټن کې نازل شوی دی «إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَى مِنْ ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَنِصْفَهُ وَثُلُثَهُ وَطَائِفَةٌ مِنَ الَّذِينَ مَعَكَ وَاللَّهُ يُقَدِّرُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ...په جوته توګه ستا پالونکی ښښتن پوهېږي چې ته کابو د شپې دوه درېمه برخه، او يا د شپې نيمايي برخه، يا [لږ تر لږه] د شپې دريمه برخه [عبادت ته] پاځېږې او [همدا راز] ستا له يارانو يوه ډله [هم همداسې کوي]، او الله [چې] شپه او ورځ تقدير کوي...» [مزمل ۲۰ (۷۳:۲۰)]

دا ټول مني چې ورځ له ډول ډول بوختياو سره د يوازېتوب، تفکر او تمرکز لپاره مجال نه پرېږدي. خو د شپو په نيمايو کې، په ځانګړې توګه له څو ساعتونو استراحت او د ځواکونو له تجديد وروسته، د توجه او تمرکز لپاره په بشپړه توګه ډګر او شاليد برابرېږي.
البته د ګرمې او نرمې بسترې پرېښوول او د خوب د دروندوالي په وړاندې مقاومت ستونزمن کار دی له همدې لامله د شپې نمونځ [تهجد] له پيغمبر پرته په بل چا واجب[فرض] شوی نه دی، خو د داوطلبانه، زيادي[نافله] عبادت په عنوان چې د مؤمن د قدم ثبات او ټيکاو زياتوي،هم په قرآن کې او هم د پيغمبر او د هغه د اهل بيتو او اصحابو په ويناو کې پرې ډېر ټينګار شوی دی.

الله تعالی د هاغو متقینو په توصیف کې چې جنت ته واردیږي، د هغوی د احسان د نښو له جملې، شپېنۍ ویښتیا او په ګهیځ کې استغفار ګڼلی دی «إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ، آخِذِينَ مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ مُحْسِنِينَ، كَانُوا قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ، وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ[خو] متقیان په [جنتي] باغونو او چینوځایونو کې وي. هاغه څه چې پالونکی څښتن یې ورکوي، تل یې [په خوښۍ] اخلي، [ځکه چې] هغوی تر دې مخکې تل نېک چاري ول. هغوی له شپې لږه برخه ویدېدل [او په نیمو شپو کې به نمانځه او مناجات ته ودرېدل]او په ګهیځونو کې به یې [له خپل پالونکي څښتنه] ښښنه غوښتله.» [ذاریات ۱۵ (۵۱:۱۵) تر۱۸].

او په نیمو شپو کې عاجزانه سجدې او قیام یې چې د آخرت له وېرې او د پالونکي څښتن د رحمت په هیله عملي کېږي، د پوهې او دانایي لامل ګڼلی دی: «أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ. آیا [غافل او ناشکره انسانان غوره دي یا] هاغه چې په شومه دم کې د سجدې او قیام په حال کې په بې کبرۍ پر عبادت بوخت وي [او] له آخرته[له عذابه] ځان ساتي او د خپل پالونکي څښتن رحمت ته [نه واسطو ته] هیلمن وي. ووایه: آیا هغوی چې پوهېږي او هغوی چې نه پوهېږي برابر دي؟ یوازې [الهي خالص]عقل مندان [او اندیال] پند اخلي.»[زمر ۹ (۳۹:۹)] یعنې هغوی چې په عاجزۍ د شپې په مهالونو کې د سجدو او قیام په حال کې دی او له آخرته ډار او حذر کوي او د پالونکي څښتن رحمت ته هیله من دي، همدوی پوهېږي او همدوی د عقل خاوندان دي.

قرآن دا فضیلت او برتري نه یوازې د سپېڅلو او پوهو مسلمانانو په اړه، چې عیناً د رښتینو مؤمنو اهل کتابو په اړه هم څرګ ورکوي:
«لَيْسُوا سَوَاءً مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللَّهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ [له دې حال سره، هغوی ټول] یو شان نه دي؛ له [همدوی] اهل کتابو، [هم اندې او موخې والا ژمن وګړي] یوه ډله [د خدای په لار کې] کلک ولاړ دي چې د الله آیتونه د شپې پر مهال لولي او هغوی [په رېښتیني توګه الله ته] سجده کوي.» [آل عمران ۱۱۳ (۳:۱۱۳)].
یعنې اهل کتاب ټول مساوي نه دي، یوه ډله له هغوی ولاړ استوار هم اندې دي چې د الله آیتونه په شپېنیو مهالونو کې تلاوت کوي او هغوی تل سجده کوي [الله ته تسلیم او رام دي].

الله تعالی اصلاً شپه او ورځ یو پر بل پسې ددې لپاره ګومارلي دي، چې شپه، د استراحت تر څنګ د ذکر او روحي ویښوالي مهال دی، او ورځ د الله له نعمتونو څخه د برخمنتیا (شکر) او

د جسمي ويښوالي مهال وي: «وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا» «او هغه هاغه [خدای] چې شپه او ورځ يې يو پر بل پسې وګومارل ددې لپاره چې که هر څوک چې وغواړي [ له شپيني مناجات سره] معنوي ويښوالی ومومي، يا که وغواړي [له ورځينيو هڅو سره، عملاً د الهي نعمتونو] شکر وکاږي.» [فرقان ۶۲ (۲۵:۶۲)].

او دا راز دی چې قرآن د ورځې پر ځای د شپې نازل شوی دی ځکه چې شپه د الهي ذکر او الله ته د نژدې کېدو او فکري تمرکز بهترين مهال دی.

---

۱ ـ د «قدر» معنا اندازه ده. په قرآن کې راغلي چې الله تعالی ټول څيزونه په اندازه پنځولي [قمر۴۹ (۴۹:۵۴)] او د ټولو څيزونو ګنج او زېرمه له الله سره ده او له اندازې پرته يې نه نازلوي [حجر۲۱ (۲۱:۱۵)]. له دې حساب سره د انسانانو هدايت او د وحی نزول هم، کچه او اندازه [قدر]، حساب او کتاب لري او تعليم هم تدريجي او تقديري [په اندازه] دی. په « إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ » کې د «نا» [متکلم مع الغير] جمعي ضمير، د قرآن د نزول په کار کې د ډېرو زياتو لاملونو د لاس په کارېدو او مشارکت دلالت کوي؛ الهي امر، عاملې پرښتې، پيغمبر د وحی اخېستونکی، معاصر او راتلونکي مخاطبان.

۲ ـ د «ما ادريک» او «ما يدريک» جمله په ټوله کې په قرآن کې (۱۶) ځله تکرار شوې ده چې ټول يې د قيامت او د ماوراء الطبيعه [له طبيعت پورې غاړه] يا د پېچلو علمي مسئلو په اړه دي چې درک او فهم يې د هاغې زماني او اوسنۍ پوهې او علم په توسه ممکن نه وو او نه دي. لکه: ما ادريک: ما يوم الدين، ما يوم الفصل، ما القارعه، ما الحطمه، ما الحاقه، ما سجين، ما عليون، ما الطارق، ما العقبه، ما ليلة القدر، ما هی [هاويه]، ما يدريک لعل الساعه، ما يدريک لعله يتزکّی ... د وحی د پېچلوالي ذکر، حتی د مکرم رسول (ص) لپاره چې ددې کلام مخاطب وو، دا څرګندوي چې له هغې څخه د علمي پوهې په توسه انتظار، لرې تر لرې د نن ورځې لپاره، څومره له واقعيت څخه لېرې دی.

---

## لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ﴿۳﴾

[همدومره پوه شه چې] د قدر شپه تر زرو مياشتو[۳] غوره ده.

---

«لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ» ـ په دې آيتونو کې د ليلة القدر تکرار او اظهار ددې شپې د قدر د ستروالي او د اوچت مقام څرګندونه کوي. او د خير تفضيلي صفت، برکتونو او نېکو اغېزو ته اشاره لري. په مخکيني آيت کې وايي ته څه پوهيږې چې ليلة القدر څه دی؟ دلته وايي له ليلة القدر څخه همدومره پوهېدی شې او ټول دې وپوهيږې چې د قدر شپه تر زرو مياشتو بهتره ده، دلته «الف شهر» د تکثير لپاره دی.

ددې پوښتنې په اړه چې «ولې زموږ اند د ليلةالقدر له درک څخه عاجز دی؟»، د مبحث په پيل کې مو توضيح ورکړې.

خو ولې دقدر شپه تر زرو مياشتو بهتره ده؟ د يو هېدو لپاره تاسو تصور کړئ هغه چا چې څوکاله يې د تحصيل په دوره کې تنبلي کړې وي او نه دی توانېدلی په پاياني ازموينوکې ومنل شي، څوکومه ورځ چې په پای کې د زياتو هڅو په پايله کې د بريا نمره واخلي او ومنل شي او د تحصيل دوره په برياليتوب پای ته ورسوي، وايي دا ورځ د هغه لپاره له هاغو څوکلونو څخه ډېر ارزښت لري په کومه مقطع کې چې د لټۍ له لامله تم پاتې وو.

يو ملت هم کېدای شي اوږده کلونه په يو ځای بې خوځښته او تم شوی پاتې وي يا په ناسمه لار حرکت وکړي، او د يو منظم او مقدر (اندازه شوی) پروګرام او فکري رهبرۍ په نه شتون کې مياشتې او کلونه په خپل چورليز څرخي او هيڅ ځای ته نه رسيږي او د پرمختګ او کمال پر لور لار ورته نه پرانېستل کيږي. خو وروسته له يو سم فکر او پر ځای او مناسب ويلاړ سره له يو عمر بې خوځښته پاتې کېدو ژغورنه ومومي او د پرمختګ او ترقۍ پر مسير روان شي.
که دا «زرمياشتي» په کال حساب کړو کابو ۸۳ ، ۸۴ کاله کيږي؛ يعنې د يو انسان متوسط عمر چې ښه عمر يې کړی دی. آيا داسې نه ده؟ نو، يعنې يوه شپه، حتا يوه شپه، ژور درک او له حقيقت سره اړيکه تر يو عمر بيهوده او عبث ژوند کولو بهتره ده.

ځينو مفسرينو ددې «زرومياشتو» په اړه ويلې دي چې دا د بني اميه دوران ته اشاره لري چې حکومت يې زرو مياشتو ته ورسېد. ځينو نورو هم غوښتي ددې لپاره نور مصاديق پيدا کړي. ضرور نه دی مصاديق يې محدود وګڼو، مهم دادی چې انسان پر دې پيوند او تړاو آګاه اوسي او په پايله کې دا اتصال او تړاو رامنځته شي. ډېر عمر مهم نه دی؛ دا اړيکه او تړاو مهم دی او هاغه څه چې ددې تړاو له اغېزې پېښيږي. دا معنوي سهم او ونډه، چې د قدر په شپه ترې انسان برخمن کيږي مهمه ده؛ له ډېر پخوا انسانانو د قدر شپه درلودلې ده. وايي زبور د رمضان په شپږمه او تورات د رمضان په اتلسمه نازل شوي دي. دا په روايتونو کې دي چې، د نورو پيغمبرانو کتابونه هم د کال پر همدې مهال، چې په دې مهال کې له معنوي ليده د انسان په روح او جهان کې چمتووالی شته کيږي، نازل شوي دي. لومړني انسانان په څه نه پوهېدل، بشر په غارونو کې د هستوګنې پر مهال په سوچه بې خبرۍ کې ژوند کاوه. لومړني بشر يوازې ډېره لږه له اختياره برخمنتيا درلوده، خو له هاغې مهاله تر اوسه بشريت پوړۍ په پوړۍ او کال په کال د پرمختګ تګلاره وهلې ده. په هره دوره او پېر کې يې له نوو او تازه کتابونو او معلمانو څخه

ونړه اخېستې او برخمن شوي دي، او د «تکامل» د نظريې په اصطلاح جهش او غورځنګ يې کړى دى. د بشريت په ځلونو جهشونه او غورځنګونه د هغوى د قدر د شپو پايله ده. يعني که دا اړيکه او تړاو چې د قدر د شپې تقاضا ده رامنځته شي تر زرو مېاشتو بهتره ده دا زر مېاشتې هم لکه څنګه چې مخکې مو وويل د «تکثير» په عنوان دي نه دا چې له يوزرو يو مېاشتو بهتره نه ده بلکې د عالي او غوره اړيکي يوه لحظه هم له يو اوږد تنبل او بې حاصله ټول عمر څخه غوره او بهتره ده.

يو زده کوونکى چې ښوونځي ته شامليږي په دې هيله دى چې هر کال لوړ ټولګي ته ترقي وکړي او خپل «قدر» زيات کړي، او که نه د خپل عمر پانګه او آبرو يې بايللې او مادي پانګه يې هدر کړې. زر کاله په يوه ټولګي کې هسې کېناستل لوړ ټولګي ته د قبولۍ د يوې نومرې ارزښت (تحصيلي قدر) نه لري.

وچه او شاړه ځمکه چې د باران په برکت تازه کيږي، سمسوريږي او زغونيږي، عطر او رنګ اخلي او له يو «مقدار» اوبو سره د خپل حيات «قدر» بېرته مومي، د وچکالۍ زر کاله د اورښت له يوې ورځې سره نه بدلوي.

راز راز جوړې چې الله تعالى د ژوندانه په صحنه کې رامنځته کړي دي، د يوې مرموزې او نامعلومې جاذبې په توسه فاعليت له قابليت سره نښلوي. که کوم داسې فاعليت په منځ کې نه وي چې يوه «تقدير» شوې ذره په وړ هستوګنځي کې ځاى پر ځاى کړي، يا کوم رحم شتون ونلري چې ټاکل شوى «مقدار» په خپل ځان کې وپالي او د تقديري ودې کمال ته يې ورسوي، زر شنډ کلونه هم د مثمر ، زيږون او باروری د يوې شپې په قدر ارزښت نه لري.

د انسان زر مېاشتيني عمر (الف شهر) که بې موخې، بې مقصده او بې هدفه تېر شوى وي، له يوې هاغې شپې سره برابرى نه لري چې د خپل ځان او خداى په «قدر» کې تفکر ته ناست وي (ما قدروالله حق قدره )، او خپل «تقدير» يې موندلى وي. [زر مېاشتې کابو څه دپاسه ۸۳ کلونه کيږي چې معمولاً د انسان د بوډاتوب او زړښت پړاو دى( له څښنو ځانګړنو پرته)].

د هاغو ملتونو زر کليز عمر چې له الهي موازينو څخه په بې لاربتوب، غرور او طغيان کې تېر شوى وي، د هاغه ملت له يو کلن عمر سره په پرتله چې سرليک يې د نفسونو له تغيير او الهي تحول سره «مقدر» شوى وي بې ارزښته دى.

«حيوانات او له هغوى سره هم سطحه انسانان له يوه سره په عمومي تقدير او طبيعي غريزو محکوم دي او له خپله ځانه خپلواکي او اراده نه لري. کوم خاص او د پاملرنې وړ تقدير هم نه لري. انسان او ټولنه هر څومره چې خوځنده او متحرک تره او ډېرتره د خپلواکۍ او تحول د

خاصيت لرونکي وي اغېز يې د خپل ځان او نورو په تقدير کې زياتر او ژور دی ... که مختار او خپلواک وګړي د مشترکو موخو او نظامونو لرونکي وي، متحرکه او متحوله ټولنيزه بڼه رامنځته کوي چې د فرد په ټولنه کې او د ټولنې په فرد کې د تقدير منشأ ګرځي، د داسې يو امت د اندونو، کړنو او چلندونو مجموعه د تېر تقدير د تغيير لپاره شاليد او د راتلونکي تقدير لپاره تثبيت دی. ان الله لا يغيير ما بقوم حتى يغييروا ما بانفسهم .... دملتونو بې مهاله غورځنګونه او له زمانې مخکې پرمختګونه د ليلة القدر[رونو] او الهامونو د انوارو په رڼا کې دي چې په تورتم ترينو زمانو کې او د تاريخ د سرفصلونو په پای کې، پيغمبرانو او سرلارو ته ځلېدلي دي، تر دې چې د تاريخ په وروستني سرفصل کې او د عربو او دنيا د جاهليت په تورتم کې، د قرآن بشپړ آئين ليک او د اسلام آئين په ليلةالقدر کې وځليد اود خپل لايزالي ځواک سره يې تاريخ دهغه له ټولو محتوياتو سره په حرکت راوړ او له مخکې ښخه زيات يې مخته بوت او په يو شپه کې يې د زرو کلونو لار ووهله...»

---

**۳ ـ** زر مباشتې له يو اوږد عمر [۸۳ کالو] سره برابر دی. دا مقايسه او پرتله ښايي ددې معنا لرونکي وي چې د قدر يوه شپه او نېکمرغه تقدير او سرليک، له يو اوږد تنبل او بېلارې عمر ښخه بهتر او غوره دی.

د حافظ په وينا: دوش وقت سحر از غصه نجاتم دادند و اندر آن ظلمت شب آب حياتم دادند

تېره شپه د ګهيځ پر مهال يې له خپګان او غوسې وژغورلم ـ او د شپې په هاغې تورتم کې يې راته د ژوند او حيات اوبه راکړې.

بی خود از شعشهٔ پرتو ذاتم کردند باده از جام تجلّی صفاتم دادند

د خپل ذات د وړانګو له خپرېدو يې بېخوده او بې ځانه کړم ـ د خپلو صفتونو د ځلا له جام ښخه يې شراب او ښنباک راکړ.

چه مبارک سحری بود وچه فرخنده شبی آن شب قدر که اين تازه براتم دادند

څه نېکمرغه ګهيځ وو او څه نېکمرغه او مبارکه يوه شپه وه ـ هاغه د قدر شپه چې دا تازه او نوی برات، ونډه او برخه يې راکړه.

---

تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ﴿۴﴾

په دې [شپه] پرښتې او روح [۴] د خپل رب [پالونکي ښښتن] په اذن [فرمان او اجازه] [د هدايتي چارو] له هرې چارې [لپاره] راکوزيږي.

دا آيت د ليلة القدر د قدر او فضل د تکميل او بشپړتيا د بيان لپاره د ملاتړ په توګه دی چې څنګه او ولې له زرو مياشتو غوره ده دا ځکه چې په دې شپه کې ملائکې او روح د رب په اذن او فرمان دهدايتي چارو له هرې يوې لپاره تنزل کوي.

د تنزل مضارع فعل چې اصل يې تَتَنَزَّلُ دی د ليلة القدر په تجدد او بقاء دلالت کوي. لکه څنګه چې د دخان سورت فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ هم په تجدد او بقاء دلالت لري. يعنې له دې ځرګنديږي چې د قدر شپه يوازې د پيغمبر اکرم(صلی الله عليه واله) په زمانې او د قرآن د نزول پورې ځانګړې نه ده، بلکې يوه دوامداره او مستمر امر او چار دی او دا شپه تل په هر کال کې تکراريږي.

خو پرښتې، څه ډول يو موجود دی ؟ روح څه څيز دی؟ پرښتې په سراسر طبيعت کې شتون لري. هغوي د نړۍ کارمندان او پلې کوونکي دي، د جهان ځواکونه دي. ټول څيزونه د پرښتو له کار اوکړنو سره پاى ته رسيږي. يو له هغوی ملک الموت يا د مرګ پرښته نوميږي. يوه بله يې انسان ته د آرام ببنلو او هوساينې پرښته ده، په جنګونو کې، مؤمنانو ته د روحيي ورکولو لپاره، چې د هغوي زړونه آرام کړي چې قرآن هغه ته ډېرې زياتې اشارې لري. او البته دا پوره بحث ته اړتيا لري.

د پرښتو مسئله په قرآن کې له مهمو مسئلو څخه ده. په نهج البلاغه کې ۹۱ خطبه، د پرښتو د پنځ او په طبيعت کې د هغوي د نقش په اړه وايي: چې ځينې يې له بارانه ډکو درنو وريځو په منځته راوړو کې بوختې دي. يعنې جوّي پديدې چې رامنځته کيږي، لکه د اورښت اوربدل د پرښتو کار دی. يا ځينې يې په سترو او لوړو غرونو کې ځاى پر ځاى دي؛ ځينې يې د شپې په تيارو کې هستوګن دي. د ځينو پښې په: "تُخُومَ الاَرضِ السُّفلی" [د ځمکې مرکزي هسته] کې دي او وولې يې له افقه پورته تللې دي. تاسو فکر وکړئ دا کوم ځواک دی؟ آيا د ځمکې د جاذبې له ځواکه څخه بل تعبير نه دی؟ ووينئ او پاملرنه وکړئ دا کابو ۱۴۰۰ کاله مخکې ويل شوي دي. او نيوتن څه وخت د ځمکې جاذبه اعلان کړه؟ معلوميږي چې په دې تناسب ډېر اوس اوس. کابو ۳۳۵ کاله مخکې.

د نالوستو او عامو خلکو لپاره چې وغواړي ووايي چې يو ځواک په جهان کې لاس په کار دی چې لکه د ستنو په څير د ستورو له غورځېدو څخه مخنيوی کوي، په دې ژبه وايي؛ پرښتې چې ګامونه يې له يو لورې د ځمکې په مرکز کې دي او له بل لورې له اسمانه هم پورته تللې دي. نو دا خو په ځرګنده توګه معلومه ده چې د هغوی د پوهې وړ په ژبه د مطلب بيان کوي. بيا ورپسې زياتوي چې د اسمان په طبقو کې داسې ځاى نشته چې له پرښتو تش وي. کورټ ځرګنده ده چې غواړي د طبيعت ځواکونو ته اشاره وکړي. چون د طبيعت له ټولو نندارو څخه په پرښتو تعبير

کوي، چې ددې جهان چلوونکي دي. جهان موږ ته ظاهراً بې روح او مړ ښکاريږي، خو په حقيقت کې په جهان کې هيڅ خيز مړ نه دی. حتا اوسپنه او لرګی او تيږه هم بې ځانه او په مطلقه توګه جامد نه دي. دوی دننه په خپل ځان کې اتومونه لري چې تل په حرکت کې دي او په يو ډول او درجه له حيات او شعوره په هغوی کې شتون لري. په همدغو الکترونونو کې چې د هستې ګردچاپېره ګرځي، يا پخپله د اتوم هسته چې ډېر پېچلی جوړښت لري، دا ټول زموږ لپاره د پيغام لرونکي دي. يعنې جهان په مړي او ژوندي نه دی وېشل شوی، هرڅه چې دي ځان او معنا لري. هر هاغه څه چې په طبيعت کې دي، يو نظام ته متکي دي، د قرآن په تعبير چلوونکي لري چې همدا پرښتې دي.

پر پيغمبر د وحی په نزول کې هم پرښتې يا يو لړ ځواکونه ددې کار عاملين دي، لکه څنګه چې جاذبه يوه له ځواکونو او يوه له پرښتو ده؛ يا الکترو مقناطيس يا هسته اي ضعيف او قوي ځواکونه. هاغه ځواک چې پر پيغمبر نازل شو هغه هم يوه انرژي او يو شعور وو چې د بشر په سطحه کې راکوز شو.

## د پرښتو پرله پسې راکوزېدل څه ډول او کومې موخې ته دي؟

خو د پرښتو او روح نازلېدل او کوزېدل د څه لپاره دي؟ په هاغه شپه، تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ. مِّن كُلِّ أَمْرٍ يعني له هر يوه امره، له هرې يوې موضوع. سمدم لکه د ښوونځي په خبر چې د فزيک ښوونکی راځي، د کيميا راځي، د رياضياتو استاد راځي، د تاريخ، د جغرافيا، او يا د ادبياتو استاد راځي او هر کال له سره، نوی نوی دا کار تکراريږي. اما د الله مدرسه او مکتب بې نهايت دي. نو په هره موضوع او زمينه کې چې انسان وغواړي په هغه کې وده او رشد وکړي هغه ته تعليم ورکول کېږي. وايي د خلايقو په شمېر د الله لور ته لارې وجود لري. نو، د قدر په شپه، په هره يوه معنوي زمينه کې د حقايقو د فهم، جذب او هضم امکان وجود لري. حقايق ستا د درک او هضم په حد کې نازلېږي او ستا په لاسرسۍ او واک کې ګومارل کېږي [او درکول کېږي]؛

په هاغه پرتله کې چې مخکې مو د صاعقې د نزول [ او د ځمکې په اوچته نقطه کې د هغې لګېدل او الکتريکي تخليه ]، او د وحی د نزول [ او په لوړترين انساني اند او ايمان کې د هغه القاء ]، تر منځ وکړه، بايد دا مطلب هم ورزيات کړو چې د توپان او تالندې او برېښنا او تکې بهير تر هاغه مهاله چې هوا منقلبه وي ادامه مومي او ورسره د ورېځو د پرګنو او بارو د ښکته پورته کېدو او د الکتريکي بارونو د تقويت له لامله د صاعقې [تکې] امکان شتون لري. په داسې توګه که څوک په دې موده

کې د لوړې غونډۍ پر سر شتون لري د صاعقې تر خطر لاندې واقع کېږي. په همدې ډول د قدر په شپه کې د سپېڅلو تر چاودېدو پورې چې د معنوي عالم انقلاب د ورځې له مادي جاذبې سره سره آرامش او سوکالۍ ته رسېږي، له هرې چارې د پرښتو نزول دوام لري.

په بل مثال کې کولی شو لېږي واقع شوی نوبنسټيز ښوونځی تصور کړو چې هر کال په لومړنۍ تحصيلي مباشت کې، د هاغو زده کوونکو له خاطره چې لوړو صنفونو ته يې ارتقاء کړې ده او نوو کتابونو او ښوونکو ته يې اړتيا پيدا کړې، د ښوونې او روزنې له مرکزي اداري څخه ورته نوي معلمين له اړينو کتابونو او توکو سره لېږل کېږي. معمولاً د کتابونو او لوازمو «مقدار» او د معلمينو «تعداد» د هرکال د زده کوونکو د علمي «قدر» او اندازې سره مستقيم تناسب لري او د اړتيا له بريده نه زياتېږي او نه کمېږي. هغه نظام چې د هيواد د ښوونې او روزنې په عمومي اداره کې برقرار دی دا ايجابوي چې دا ډول «تقدير» او طرح دې د توکو له ويش سره په کال کې يو ځل انجام شي او هر ښوونځی د تعليمي کال په درشل کې خپل «قدر» لاسته راوړي. د مکتبونو په اوسني تعليمي نظام کې، د زده کوونکو د استعداد د نسبي يو شان والي او د ښوونځيو د چارو د اسانتيا لپاره، معمولاً د کتاب او معلم ونډه د ښونځيو د زده کوونکو په تناسب ثابته ده او په يو نواخت ډول يوشان پروګرامونه د ښوونې او روزنې په شپږ کلنه يا ۱۲ کلنه دوره کې پلي کېږي. خو که د تعليمي نظام مهال ويش د تغيير او تحول امکان درلودی او له مختلفو سوييو او استعدادونو سره د زده کوونکو د ښوونې او روزنې پېچلتوب وزغمي په دې حالت کې به د کتاب او معلم جيره د هيواد په هره نقطه کې د هر کلاس د علمي رشد په تناسب تغيير کولی، د هاغه کسانو لپاره به چې پورته نه دي تللي څه څيز نه لېږل کېده او د هاغو کسانو لپاره به چې دوه برابره درس يې لوستی وو دوه برابره امکانات استول کېدلی.

د نوي تعليمي کال په لومړۍ ورځ کې، معلم او تازه کتابونه په دې شرط د شاګردانو په اختيار کې ورکول کېږي چې کلنۍ سخته ازموينه يې تېره کړې وي او د حال ژبې يې دا راز غوښتنه کړې وي. د «قدر» په شپه کې هم په دې شرط پرښتې له هرې چارې نازلېږي چې مسلمان امت د صيام په مياشت کې د تقوی ازموينې تېرې کړې (لعلکم تتقون) او د الله د نعمتونو له شکر (لعلکم تشکرون) او دوعا او خالصانه نمونځونو په توسه يې کافي رشد موندلی وي (لعلهم يرشدون). د قدر په شپه کې، لکه د تحصيلي لومړنۍ ورځې په څېر، معلمين او تازه کتابونه د بشر په واک کې ورکول کېږي، له دې توپير سره چې په ښوونځيو کې د معلمينو شمېر او د کتابونو «مقدار» ثابت دی خو د قدر په شپه کې ټولې ملائکې او روح له هرې چارې نازلېږي

(په اختیار کې ورکول کیږي) چې هرڅوک د هاغه «قابلیت» او درک او پوهې د ظرفیت په مقدار چې موندلی یې دی د هغوی له «فاعلیت» څخه جذب کړي او تازه درسونه واخلي.

د هدایت ښوونځی له معمولي ښوونځیو سره بل توپیر هم لري، په عادي ښوونځیو کې کله چې نوی ښوونکی ټولګي ته ننوځي او نوي درسونه تدریس کوي، ټولو شاګرانو ته، سره له دې چې ځینو یې اړین مقدمات نه وي طی کړي او کافي چمتووالی یې لاسته راوړی نه وي، په یو شان تدریس کیږي. خو د هدایت په مدرسه کې هر کله چې یو تن له شاګردانو د غورځنګ چمتووالی ولري، د کلني «تقدیر» په سرفصل کې، د هغه د چمتووالي او اړتیا په تناسب یو معلم ورته لیږل کیږي.

سره له دې چې نور شاګردان د نوي معلم د پوهې د درک پړاو ته نه دي رسېدلي. خو که مخکې د داسې یو معلم په نه شتون کې د هغه درس ته لاسرسی شونی نه وو، دادی په تدریج کولی شي د هغه د کلام له الفبا سره آشنا شي او د زمانې په اوږدو کې له خپله ځانه یا په غیرمستقیم ډول د هماغه ممتاز شاګرد له زده کړو برخمن شي. د قدر په شپه د قرآن نزول او په راتلونکو ۲۳ کلونو کې یې تنزیل د لومړنیو محکمو اصولو د تفصیل او تبین په جهت کې، او د هغه تأویل او توجیه او تطبیق یې د ټولنې پر ظاهرو سر لارو او د هغوی پر سپېڅلو پیروانو په راتلونکې کې تر قیامته په همدې ډول دی.

له پورتنیو توضیحاتو سره ښایي د پرښتو او روح د نزول د استمرار راز د راتلونکو قدر په شپو کې، چې د قدر او دخان په سورتونو کې د تنزل او یفرق له مضارع فعلونو سره پرې ټینګار شوی دی روښانتر شي. تنزل الملئکة و الروح فیها ... فیها یفرق کل امر حکیم

د قدر د شپې د ابدي فضیلت لامل پر زرو میاشتو د هر کال کې په تقدیري سرفصل کې د داسې یو برکت د تجدید اوبقا په خاطر دی چې د برترې فاعلیتي جاذبې اونازلتر قابلیتي انجذاب په سبب فعلیت ته د چمتو استعدادونو په شالید کې تل په پرله پسې توګه یو غورځنګ جوت او څرګندیږي.

## ولې د روح تنزل له ملائکو بېل دی؟

خو د ملایکو او «روح» د توپیر په اړه د ډېرې روښانه او څرګندې توضیح ورکول ناشوني دي.

خو ددغه ساده مثال په توسه ښایي وکولی شو تر یو بریده د مسئلې پوهېدو ته نژدې شو؛

د مثال په توګه موږ پوهېږو یو محصل چې درس وایي، دوه ځیزونه د هغه د پورته تګ او ودې لاملونه دي: یو یې بیروني امکانات، یعنې کتاب او ازمېښت خونه [لابراتوار] او معلم او ښوونځی؛ او بل هم د هغه خپل استعداد. که د هاغه بیروني امکاناتو نوم پرښتې کیږدو؛ یعنې هماغه ځواکونه چې په جهان کې په کار کې بوخت دي او موږ ته مرسته رسوي. خو که هوش او استعداد او ذهني ظرفیت او د یادونې قوه په موږ کې نه وي، په هیڅ کار کې نه شو کولی

پرمختګ وکړو. نو په واقعیت دوه ځواکونه دي چې موږ پورته وړي: بیروني امکانات او زموږ خپل استعداد یا دنننې امکانات. ددغه دنننې استعداد نوم روح دی.

الله تعالی له خپله روحه په موږ کې پُو کړی دی: «وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي» [حجر۱۵ (۱۵:۲۹)]. دا روح هاغه [ساه] چې په ژوند پوهنه کې یې لولو نه ده. بلکې بله قوه ده چې کولی شي موږ پورته یوسي؛ په موږ کې خاص استعداد دی. «لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ» [تین۴ (۹۵:۴)]. موږ انسانان په بهترین «تقویم»، یعنې پورته تګ او قیام کې پنځولي دي. له انسان پرته هیڅ یو موجود نه شي کولی وده، تعالي او لوړتیا ومومي. که پاملرنه وکړو آس له زرو کلونو راهیسې تر اوسه هیڅ توپیر نه دی کړی او هماغه خپل حد کې باقي پاتې دی، خو انسان نن ورځ حتا له لسو کالو مخکې سره یې له علم، پوهې او احساس له نظره ډېر زیات توپیر کړی دی. بشر په پرله پسې توګه پورته ځي. الله تعالی له خپل روحه په موږ کې پُو کړی دی چې وکولی شو تعالي او لوړتیا ته ورسېږو. دا هماغه استعداد او د درک ځواک او پوهه، تجزیه او تحلیل او وینا کول دي: عَلَّمَهُ الْبَيَانَ. [رحمن۴ (۵۵:۴)] د لوستلو قدرت دی، د طبیعت لوستل. لکه څنګه په مخکینې سورت کې مو وویل، انسان کولی شي د طبیعت کتاب ولولي، د هغه په الفبا پوه شي او وروسته یې بیان او وینا ته واړوي او نورو ته یې ولیږدوي او پوهې او دانش ته پراختیا ورکړي. روح هماغه زموږ خپل استعداد دی، خو پرښتې بهروني ځواکونه دي.

د قدر په شپه کې، الله تعالی هم معلمان او هم کتابونه او هم د ډېرې پوهې امکانات زموږ د پوهې په لاسرسي کې ګوماري او هم زموږ دنننې ځواکونه چمتو تر کېږي، البته که موږ خپل ځان له هاغو امکاناتو څخه د برخمنتیا لپاره چمتو کړی وي. څکه چې په دې مباشت کې د بشر هوش او ځواک زیاتوالی مومي او کولی شي ځان جوړونه وکړي او الهي روح چې په ځان کې یې لري تقویت کړي. قرآن د حضرت عیسی په اړه وايي: وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ [بقره۸۷ (۲:۸۷)] موږ هغه د مقدس روح په توسه تائید او ځواکمن کړ. یا وايي که تاسو د توحید د کلیمې د اعتلا او لوړتیا په لار کې ثابت قدم اوسئ ستاسو روح؛ یعنې هاغه دروني او الهي روح به مو ځواکمن او تقویت شي. قرآن په دې مسئله ډېر ټینګار کړی دی چې انسان کولی شي خپل معنوي استعدادونه په پرله پسې توګه پورته یوسي او وده او کمال وروبښي.

د «تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا ...» په آیت کې، روح له ملائکو ځانګړی او مستقل او برتر حالت پیدا کړی او یو جداګانه نزول هغه ته نسبت ورکړل شوی دی. که مخکینې مثال ته وروګرځو، د قیاس، تشبیه او پرتلې په توګه کولی شو د کتابونو او معلم ببل نقشونه په پام کې ونیسو چې

لومړنی د دويمي په لارښوونه د استفادې وړکېږي. او اتفاقاً په قرآن کې يې پيغمبرانو ته د وحی د القاء لپاره د ملائکو نزول د «روح» په مرسته معرفي کړی دی:

«يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ أَنْ أَنْذِرُوا أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُونِ» پرښتې له خپله امره يوه روح سره [= هدايت کوونکې وحی] پر هر چا له بنده ګانو يې چې وغواړي [=چې د اخېستلو وړ يې وي] نازولوي [له دې دندې سره] چې [خلکو ته] انذار [او خبر] ورکړئ چې له ما پرته بل معبود نشته، نو يوازې له ما پروا وکړئ. [نحل۲ (۱۶:۲)].

ښايي وکړای شو د روح نسبت ملائکو سره يا د ساه نسبت تن سره پرتله کړو چې لومړنی د دويمي هڅوونکی او ژوند ښوونکی دی په داسې ډول چې غړي، لاس او پښې يې لکه د وسايلو په توګه د هاغه ارادې او خپلواک شخصيت په چوپړ کې عمل کوي او له هغه بيل کوم «امر» سرته نه رسوي. او د مرحوم طالقاني په وينا: «هماغه اراده او قدرت چې د هغه په بدن او په قوو کې ځرګندېږي او هغه اداره کوي، په اوچته او وسيعتره بڼه د ستر جهان متحرک او محرک ځواک (روح) دی. او هغه له يوګوني نظامونو سره د کمال او مطلق خير پر لور مخکې وړي، او د هغه ځواکونه او څانګې «ملائکې» د عالم په باطن کې هر لور ته خپرې دي. دا ستر او اعظم روح (د روايتونو او تفسيرونو په اصطلاح) د دنيا او طبيعت په عالم کې، يا د هغه په بڼه تنزل مومي، او خپل ځان او عالم د کمال او لوړتيا پر لور مخکې وړي... »

په قرآن کې ملائکې او روح په دريو آيتونو کې يو له بل سره يو ځای راغلي دي چې يو تر بله يې ملازمت برېښي. له ذکر شوو آيتونو څخه هريو په خاص شاليد کې داهمغږې ځرګندوي:

د قدر سورت د روحي هدايت په شاليد کې تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا ....، د نباء سورت د قيامت په شاليد کې «يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا...پر هاغه ورځ چې روح او پرښتې پر يوه ليکه شوي درېږي...»[نباء ۳۸ (۷۸:۳۸)] او د معارج سورت د عروج په شاليد کې. «تَعْرُجُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ» «پرښتې او روح په هاغه ورځ کې چې مقدار يې پنځوس زره کاله دی د هغه لور ته عروج کوي.» [معارج ۴ (۷۰:۴)]

ددې نکتې يادول ضروري دي چې د قدر په شپه کې د پرښتو او روح نزول د انسان له هدايتي پرمختګ او تکاملي غورځنګ، ودې او رشد سره په اړيکه کې دی، د کال په نورو مهالونو کې هم د شرايطو د حصول په صورت کې د انسانانو د مرستې او امداد لپاره د ملائکو نزول ادامه لري، په ځانګړې توګه په هاغه جهاد کې چې له «صبر او تقوی» سره مل وي، دا امداد د ډار او خپګان د لېرې کولو او جنت ته د زيري په بڼه تحقق مومي. سمدم لکه د معلمينو او مربيانو په

څېر چې له یو مخې د زده کوونکو په چوپړ کې دي او د هغوی ستونزو او پوښتنو ته ځواب ورکوونکي دي. [آدم ته د اسماء د تعلیم او د ملائکو سجدې ته اشاره] «وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا...» «وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا...» [بقره ۳۱(۲:۳۱) او ۳۴]

## د جنګ پر مهال د پرښتو نقش:

د پرښتو د مرستو ډول او طریقه چې په دنیا او آخرت کې د مؤمنانو ولیان او ملګري دي، د قدمونو ثبات او ټېکاو، د زړونو تر منځ اړیکه او تړاو، قلبي ډاډېنه او له زړونو د وېرې، ډار او خپګان لېرې کول، د جنت زېرى ورکول او په ټوله کې د روحیې ورکول دي. او د دښمنانو په زړونو کې د وېرې او ډار اچول دي.

د ملائکو د نزول شرایط: صبر، تقوا او د الهي ربوبیت اعلان او پرې استقامت او سم کلکوالى دى.او د نزول کیفیت یې:منزلین [لېږل شوني]، مسومین [نښانمن]او مردفین [مرستندویه] دى.

د ملائکو د نزول مهال او موقعیت؛ د مؤمنینو د ضعف او ذلت پر مهال او هاغه مهال چې استغاثه وکړي:

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ۞إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَنْ يَكْفِيَكُمْ أَنْ يُمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُنْزَلِينَ۞ بَلَى إِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُمْ مِنْ فَوْرِهِمْ هَذَايُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ۞ وَمَاجَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُمْ بِهِ وَمَا النَّصْرُ إِلَّامِنْ عِنْدِ اللَّهِ الْعَزِيزِالْحَكِيمِ۞[آل عمران۱۲۳ (۳:۱۲۳) تر۱۲۶]

[باید هیر یې نه کړئ چې] په تحقیق الله تاسو سره په بدر کې [په جګړه کې] مرسته وکړه په داسې حال کې چې [د دښمن د زیاتو کسانو او وسلو په مقابل کې] کمزوري واست، نو د الله پروا وکړئ [د هغه له نا فرمانۍ ویره ولرئ]، ددې لپاره چې شکر [=له امکاناتو بهتره ګټه اخېستل] یې وکړئ.۞ [باید په یاد یې راوړې وای] هغه مهال چې مؤمنینو ته دې ویل: آیا د تل لپاره [همدا] درته بس نه دي چې ستاسو پالونکى څښتن [کېدای شي] په درېو زرو له لېږل شونو پرښتو تاسو سره مرسته وکړي؟.۞ هوکى، که صبر [=زغم او ټېکاو] وکړئ او [له نافرمانۍ او تېښتې]ځان و ساتئ او [دښمنان] له همدې تېزوالي او بېړې سره پر تاسو برید [=فوران او خوټېدنه]راوړي، ستاسو پالونکى څښتن به له پنځو زرو نښانمنو پرښتو په توسه مرسته درسره وکړي.۞ او الله دا [دپرښتو د مرستې ژمنه] پرته له دې چې ستاسو لپاره بشارت [=د روحیې تقویت] وي نه ده ګومارلې، او [هم] ددې لپاره چې ستاسو زړونه [له بې تابۍ] اطمینان [=ډاډ او هوساېنه] ومومي، او سوبه [او مرسته] له ناماتي حکیم الله له لوري پرته بله نه ده.۞

«إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ﴿ نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ...﴾[فصلت۳۰ (۴۱:۳۰)او ۳۱][خو] په تحقيق هاغو کسانو چې [ د طاغوتانو په مقابل کې يې په زغرده] ويلي دي: زموږ پالونکی څښتن الله دی [نه د زر او زور او تزوير څښتنان]، بيا [پردې وينا] ټينګ ولاړدي [= د توحيد په ليک لار کې له نېغې ليکې کاږه نه شول]، پرښتې پرله پسې پر هغوی نازلېږي [= د جهان د مثبتو ځواکونو په رڼا کې د هيلو القاء ورته کيږي، چې] مه وېرېږئ او خو اشيني مه اوسئ او په هغه جنت بشارت ومومئ چې ژمنه يې درسره کيده.﴾ موږ د دنيا په ژوند او آخرت کې ستاسو دوستان [= مرستندوی] يو....﴾

إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ﴿وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِ قُلُوبُكُمْ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ وَلِيَرْبِطَ عَلَى قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَامَ﴾ إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَائِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ﴾[انفال ۹(۸:۹) او۱۰ او۱۱ او۱۲]. [در په ياد کړئ] هغه مهال چې [د بدر په جګړه کې د دښمن د وسله وال سمبال لښکر سره مخامخ واست، او په خپل ټول وجود مو] له خپل پالونکي څښتن څخه مرسته غوښتله. نو ستاسو دعا [او غوښتنه] يې ومنله [او و يې ويل] چې زه تاسو سره په زرو پرښتو پرله پسې مرسته کوونکی يم.﴾ او الله دا [د پرښتو د مرستې ژمنه] پرته له دې چې تاسو ته بشارت [=د روحيې تقويت او هيله منديي] وي نه ده کړې، او ددې لپاره چې زړونه مو پرې ډاډه شي او سوبه [او مرسته] يوازې د الله له لورې ده چې په تحقيق الله ناماتی حکيم دی.﴾ [در په ياد کړئ] هغه مهال چې [له ځانه څو برابره لښکر سره له نښتې مخکې، د ډار په شيبو کې] پر تاسو يې پرکالي راوړه ، چې د هغه له لور سوکالي [او ډاډېينه] وه ، او او له آسمانه يې پر تاسو اوبه و اورولې چې تاسو پاکيزه کړي او شيطاني [= د وژل کېدلو او ټپي کېدلو يا اسير کېدلو] وسوسې له منځه يوسي او ستاسو زړونه پياوړي او يو تر بله په تړاو کړي او ګامونه مو ټينګ کړي.﴾ [ در په ياد کړه] هغه مهال چې ستا پالونکي څښتن پرښتو ته وحی وکړه چې زه له تاسو سره يم [= مرسته کوونکی او ملاتړ يم]،نو هاغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ټينګ [او ټيکاو]کړئ،[زه هم] ډېر ژر د هغو کسانو په زړونو کې چې [دمسلمانانو په بې کوره کولو او د دين د آزادۍ په مخنيوي سره] کفر يې کړی دی، ډار او وېره اچوم، نو [ای د حق مدافعانو]، د[متجاوزو سرغړاوو] د ورميږونو له پاسه يې ووهئ او [له تورو څخه د تاوو شو منګولو] د ګوتو څوکې يې غوڅې کړئ.﴾

## په عمومي توګه د مؤمنينو او ذاکرينو لپاره د پرښتو نقش:

لازم شرايط: ايمان، ډېر زيات ذکر او شپېنۍ ورځينۍ تسبيح، د الله له لارې پلېوني.

۱ ـ د الهي رضوان، مشيت [او قانونمندۍ] پر مسير [او لارليک] د الله په اذن شفاعت.

۲ ـ د مؤمنينو لپاره استغفار.

۳ ـ توبه کوونکو او د سبيل [او لارې] تابعينو [او پلېونانو] ته استغفار.

۴ ـ تسبيح کوونکو ذاکرينو لپاره درود او صلوات.

۵ ـ له ظلمات او تيارو څخه د نور پر لور اخراج [او ايستل].

۶ ـ له جهنم څخه د مؤمنينو د لېرې کولو او جنت ته د هغوی د دخول لپاره له الله څخه غوښتنه او دوعا [او همدا راز د مؤمنينو پلرونو ـ مېندو، همسرانو او اولادونو لپاره دوعا].

۷ ـ له عذاب څخه د مؤمنانو د برکنارۍ [او اړخ ته کولو] لپاره له الله څخه غوښتنه.

وَكَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِنْ بَعْدِ أَنْ يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَرْضَى ﴿﴾[نجم ۲۶ (۵۳:۲۶)][هوکی] په آسمانونو کې ډېرې پرښتې دي، چې شفاعت يې [=دهغوی غيبي امدادونه] هيڅ شی ګټه نه لري مګر وروسته له دې چې الله «اذن» وکړي، د هاغه چا لپاره چې هغه غوښتي وي[وړ يې وبولي] او ترې راضي وي [= له الهي نظاماتو سره منطبق وي]. ﴿﴾

الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَحْمَةً وَعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ﴿﴾ رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدْتَهُمْ وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿﴾[غافر ۷ (۴۰:۷) او ۸]

[له پرښتو] هغوي چې عرش [= د جهان د مديريت نظام] لېږدوي، او هغوی چې په چاپېر کې يې دي [= هاغه پرښتې چې په ټيټو پوړيو کې يې دي] تل په حمد [او ستاينه] د خپل پالونکي څښتن تسبيح کوي [= د ستاينې په توګه پر مثبت او کمال پنځوونکي چار بوختې دي] او ايمان پرې لري او د هاغو کسانو لپاره چې ايمان يې راوړی دی [عملاً له خپل اوچتوونکي نقش سره، له عيب او نقصه کمال ته د رسېدو په پار] د پاکۍ غوښتنه يې کوي [او په تکويني ژبه وايي:] پالونکيه څښتنه، ستا علم او رحمت پر هر څيز خپور دی، نو هغه کسانو چې توبه [= تا ته ستنېدنه] کړې او ستا له [توحيدي] لارې يې پلېوني کړې، وبښه [= د ګناه له اغېزو يې پاکيزه کړه] او د دوزخ له عذابه يې وساته. ﴿﴾ پالونکيه څښتنه، دوی د جنت تلپاتې باغونو ته داخل کړه چې له دوی او د دوی له صالحو[او وړ] پلرونو، همسرانو [=د ژوند شريکانو] او اولادونو سره دې ژمنه کړې چې په تحقيق ته اوچت لاسبرى حکيم يې. ﴿﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴿﴾ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا﴿﴾ هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلَائِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا﴿﴾ [احزاب ۴۱ (۳۳:۴۱) او۴۲ او۴۳] ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی، الله یاد کړئ، ډیر زیات یاد.﴿﴾ او ګهیځ او ماښام [= د ورځې پیل او پای] د هغه تسبیح و کړئ.﴿﴾ دی [الله] هاغه ذات دی، چې [له خپل مغفرت او رحمت سره] پر تاسو عنایت او پاملرنه لري – او پرښتې یې هم [د رحمت له واسطه نقش سره] – چې تاسو [د جهل او شرک او کفر او...] له تیارو څخه [د توحیدي ایمان او تقوی] رڼا ته راوباسي او [الله] د مؤمنینو په نسبت ځانګړی رحمت لري.﴿﴾

... يَا أُولِي الْأَلْبَابِ الَّذِينَ آمَنُوا قَدْ أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا﴿﴾ رَسُولًا يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِ اللَّهِ مُبَيِّنَاتٍ لِيُخْرِجَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللَّهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا قَدْ أَحْسَنَ اللَّهُ لَهُ رِزْقًا﴿﴾ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ الْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ...﴿﴾ [طلاق۱۰ (۶۵:۱۰) او۱۱ او۱۲] ... ای د عقل خاوندانو، هغوی چې ایمان مو راوړی دی [=دوجدان او اخلاقي ژمني اهل یاست] د الله پروا ولرئ چې یقیناً الله [د غفلت له خوبه] د وېښتیا اصل ستاسو لور ته نازل کړی دی.﴿﴾ هاغه رسول چې د الله څرګند آیتونه تاسو ته لولي ددې لپاره چې هاغه کسان چې ایمان یې راوړی دی [د ځان غوښتنې] له تیارو څخه [د الهي هدایت] رڼا ته راوباسي او هر هغه څوک چې پر الله ایمان راوړي او صالح [او ورز] چار وکړي؛ نو [الله] هغه [جنتي] باغونو ته ورننباسي چې تر [ونو] لاندې یې ویالې بهیږي [= د زرغون والي او سمسورتیا لامل یې تلپاتې دی]. چې په هغې کې به تل هستوګن وي یقیناً الله ده لپاره رزق ښه کړی دی.﴿﴾ الله؛ هغه ذات دی چې اوه اسمانونه یې پنځولي او له ځمکې یې هم د هغوی په څېر [اوه طبقې پنځولي او] ددوی ترمنځ [= د ځمکې او اسمان اوه ګونو طبقو تر منځ] د کړنو دستور پرله پسې نازلوي [لکه د هاغو حکمونو په څېر چې د ښځې او مېړه د جوړې په اړه یې نازل کړي] ددې لپاره چې تاسو پوه شئ چې الله پر هر څیز قدر او اندازه [=یو نظام] ګومارلې....﴿﴾

إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴿﴾ [احزاب۵۶ (۳۳:۵۶)] بې له شکه الله او پرښتې یې [له رحمت سره په مل مخ کړنې]، پر پیغمبر پاملرنه او لورینه لري، ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی، تاسو هم پر هغه [له مینې ناکې او غاړه ایښودنې مخ کړنې سره] پاملرنه او پلیونې ولرئ او وړ سلام تقدیم کړئ.﴿﴾

...وَالْمَلَائِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَنْ فِي الْأَرْضِ أَلَا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴿﴾ [شوری۵ (۴۲:۵)] ...او پرښتې [د خپل مثبت نقش له اداء کولو سره] له یو مخې د خپل پالونکي

ښښتن په ستاينه په تسبيح کې دي او [د انسان د ودې او کمال په چوپړ کې له خپلې مرستې سره] د ځمکنيانو لپاره [له ککړتيا څخه] د سپېڅلتيا او تصفيه غوښتنه کوي، آګاه اوسئ چې يوازې الله [پر مؤمنانو] ډېر لورين ښښونکی دی. ﴿﴾

له پورتنيو توضيحاتو سره سره دې نکتې ته هم اشاره ضروري ده چې ملائکې تل د انسانانو لپاره د رحمت پنځونې د تائيد نقش نه لري، کېدی شي د بې تفاوتۍ يا لعنت حالت هم د هغوی لپاره ولري:

«وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى قَوْمِهِ مِنْ بَعْدِهِ مِنْ جُنْدٍ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا كُنَّا مُنْزِلِينَ» «او تر هغه وروسته [پس له شهادته يې] موږ پر هاغه قوم له آسمانه کوم لښکر راکوز نه کړ او نه موږ [د داسې کوم لښکر نازلوونکي ولو.» [يس ۲۸ (۳۶:۲۸)]

[په اړه د: « إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَ مَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ...» هاغو کسانو چې کفر يې کړی دی او د کفر په حالت کې مړه شول «...أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ »«...پر دوی به د الله او پرښتو او ټولو خلکو لعنت وي.»][بقره ۱۶۱ (۲:۱۶۱)]

[تر ايمان وروسته د کفر په اړه: «أُولَئِكَ جَزَاؤُهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ» «د داسې کسانو سزا [= د هغوی د کړنو طبيعي پايله] همدا ده چې د الله او پرښتو او ټولو خلکو لعنت [= له رحمته لېرې والی] پر دوی دی.»] [آل عمران ۸۷ (۳:۸۷)].

او همدا راز «تنزيل» پرښتو ته مختص نه دی، شيطانان هم د منحرفينو د منفي قابليتونو پر بنسټ پر هغوی نازلېږي:

«هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَى مَنْ تَنَزَّلُ الشَّيَاطِينُ﴿﴾ تَنَزَّلُ عَلَى كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ﴿﴾ يُلْقُونَ السَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَاذِبُونَ» «آيا [غواړئ] خبر مو کړم چې پر کومو کسانو شيطانان نازلېږي؟،[شيطانان] پر هر دروغجن ګناهګار نازلېږي، [هغوی چې په ښکاره او پټه خبر اخېستو او خپرولو لپاره] غوږ ږدي او ډېری له دوی دروغجنان دي.»[شعراء ۲۲۱ (۶:۲۲۱) او ۲۲۲ او ۲۲۳]

## د رب اذن څه مفهوم لري؟

بِإِذْنِ رَبِّهِم. د پالونکي ښښتن په اذن. خو دا نه چې الله په متداوله معنا اجازه ورکوي. «اذن» يعنې همدا د الله قوانين. که ته چمتووالی ورته ولرې، همدا، تاته، د پالونکي ښښتن د اذن ورکولو په منزله او معنا دی.

په يو ځای کې فرمايي که ځمکه مستعده او چمتو وي او اوبه او خاوره او لمر نور او هوا وي، د الله په اذن ګياه او شنيلی پکې ټوکېږي.که تا د خپل وجود ځمکه ککړه کړې نه وي او د هغې چمتووالی دې له منځه وړی نه وي، د الله په اذن به زرغون شي. نو، «د الله اذن» يعنې الهي قوانين.

په بل ځای کې وايي: که د دين په لار کې لس کسان صابر او مصمم او په ژمنه ټينګ اوسئ، د الله په اذن پر سلو کسانو غلبه کوئ. يعني هاغه څوک چې تقوا او صبر لري، روحيه او اراده يې تر نورو قوي تره او ځواکمنه کيږي. د الله په اذن، يعني ته پخپله به بل سړی شې. د «اذن» کليمه په قرآن کې ډېره تکرار شوې ده. نو پر دې بنا هاغه پيښه چې د قدر په شپه واقع کيږي، يو تصادف نه دی، په هماغو الهي نظامونو په چوکاټ کې دا ډول الهامونه امکان مومي.

د قدر سورت د څلورم آيت پر بنسټ د قدر په شپه کې د پرښتو نزول، ربوبي اذن ته موکول شوی دی:[تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ]. د«اذن» معنا اجازه او رخصت ورکول دي چې په ټوله کې دواړه لورې لري هاغه څوک چې اذن اخلي او هاغه څوک چې اذن ورکوي. دا هماغه د فاعليت او قابليت قانونمندي بيا له سره تداعي کوي چې د وده موندي قابل د ظرفيت او اړتيا پر بنسټ، فاعل عمل کوي. هاغه شاګرد چې يو کال تحصيل يې پای ته رسولی دی او بالقوه استعدادونه يې په اړوندو درسونو کې فعليت ته رسېدلي وي د حال يا قال په ژبه د مخکينيو معلمينو محصلينو او کلاس څخه د بېلېدو(انشقاق) او نوي کلاس سره د يو ځای کېدو لپاره د چمتووالي اعلام او څرګندونه کوي او که د منلو وړ نومرې يې اخېستي وي، پورتني پړاو ته د يو ځای کېدو «اذن» حاصلوي.
د «اذن» معنا د مرحوم طالقاني په وينا «له لوړ او متصرف مقام څخه، اجازه يا د هاغه کار لپاره د مانع رفع کول دي چې مأذون هغه ته چمتو دی، او په ټيټ تر او د تصرف وړ پوړ کې، د چمتووالي څرګندونه ده».

د مخلوقاتو «اذن» هرو مرو د «قال» په ژبه نه دی، لکه څنګه چې رنګ او بوی او د ميوې راوتل د هغې رسېدل اعلاموي، آسمانونه او ځمکه هم په خپلو تکويني پړاوونو کې، نهايي پړاو ته د رسېدلو پر مهال د تغيير او تصرف لپاره د حال په ژبه د چمتووالي څرګندونه کوي ... و اذنت لربها و حقّت.

د انسانانو په عالم کې او د ښوونځي په چاپېريال کې، په ټوله کې «اذن» اخېستل لـه «مربـي» او د «تربيتي» چارو لپاره دي او له معلم څخه د هغه د شخصي صفت په توګه، د هغه د مربي ګری لـه نقشه مستقل کوم اذن نه اخېستل کيږي يا که اخېستل کيږي لـه زده کـړې پرتـه چـارو پـورې بـه اړه لري. په پورتني آيت کې هم «باذن ربهم» ويل شوی نه «اذن الله». چې د انسانانو د هدايت په امر [چاره] کې د ربوبيت نقش او د پالونکي ښتن تدبير څرګند کـړي. ـ پـه قـرآن کـې عموماً د اذن کليمه له الله سره راغلې ده چې پديـدو تـه پـه اذن ورکولـو کـې د هغـه عـام فرمـان او قانونمنـدي

څرګند کړي. خو کله چې یې غوښتي وي د مخلوق نقش هم په وده او روزنه کې څرګند کړي «اذن رب» کارول کیږي. لکه «وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ» او پاکیزه ځمکه [= مناسبه او وړ ځمکه] د خپل پالونکي څښتن په اذن [په هغه نظامونو کې چې هغه د نباتاتو په عالم کې ګومارلي] خپل نبات تږکوي» [اعراف ۵۸ (۷:۵۸)]، «تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا» [داسې یوه ونه] په ټوله کې د خپل پالونکي څښتن په اذن [= د هغه د نظامونو په رڼا کې] خپله مېوه ورکوي» [ابراهیم ۲۵ (۱۴:۲۵)]، «كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ» [دا] یو کتاب دی چې موږ پر تا نازل کړی دی چې خلک [د شرک او جهل او بې لاریو] له تیارو څخه ددوی د پالونکي څښتن په اذن د [هدایت، سعادت او نېکمرغۍ] رڼا ته راوباسې.» [ابراهیم ۱ (۱۴:۱)]

په دې ترتیب د قدر په شپه کې پرښتې او روح له هرې چارې نازلیږي، د هاغه لیاقت او وړتیا په حساب چې بندګانو کسب کړی دی او د حال په ژبه یې د پورته تګ «اذن» اخیستی دی، هغوی ته چې د پالونکي څښتن په اذن د مقام ترفیع ورکړي او لوړو درجو ته یې و رسوي [لکه څنګه چې د ښوونځي د مدیر په اجازه او د قوانینو او مقرراتو مطابق زده کوونکو ته ترقي ورکول کیږي].

## امر یعنې څه ؟

مِنْ كُلِّ أَمْرٍ. «امر» په قرآن کې په دوو معناو کارول شوی دی: په ځینو ځایونو کې د الهي فرمان په معنا دی: «إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ» «په تحقیق د هغه فرمان داسې دی چې هغه کله یو څیز ته اراده وکړي، چې ووایي: شه؛ نو کیږي!» [یس ۸۲ (۳۶:۸۲)] دا الهي امر، الهي اراده ده، او الهي اراده عین ایجاد او رامنځته کېدل دي. که د «امر» معنا دا وي نو د آیت معنا داده چې دا نزول الهي ایجاد ته دی. او که «امر» یعنې «هر یو کار» [هاغه پیژندل شوې معنا چې موږ یې کاروو] ددې آیت معنا داسې کیږي چې ملائکه او روح نزول مومي د هر یو کار لپاره؛ یعنې ددوی دا نزول ددې عالم د کارونو له هر یو کار سره اړیکه لري.

د مطلب دبهتر درک او پوهې لپاره، بیا هم هماغه دښوونځي مثال ته ورګرځو. ومو ویل د هر تعلیمي کال په پیل کې پورته کلاس ته دشاګردانو له ارتقاء سره هم غبرګ، نوي کتابونه او معلمین د هاغوکلاسونو او رشتو لپاره چې بایدنوې تأسیس شي د سیمې دښوونې او روزنې له مرکز څخه لیږل کیږي. څرنګه چې په مختلفو ښارونو کې د ښوونځیو شمېر زیات دی، په ټول هیواد کې د ښوونځیو د فرهنګي چارو د اداري او هم غبرګ او د درسي کتابونو د برابرولو او د معلم او مربي د تربیت لپاره، د تصمیم نیولو او د زده کړې د نظام د طراحۍ لپاره یو مرکزیت

اړين دی چې په يو هم غبرې سيستم کې د زده کړې ټولې چارې او «امور» تر خپل پوښښ لاندې ونيسي. په دې ترتيب د ښوونې او روزنې پورې اړوند هر يو «امر» له دې مرکز څخه صادرېږي.

د «امر» معنا په [تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ] کې د هاغه «امر» سره د پرتلې وړ دی چې د يو هيواد د ښوونې او روزنې له مرکزيت څخه صادرېږي. کولی شو د ملائکو او روح نقش له درسي کتابونو او معلم سره پرتله کړو چې اتفاقاً کتاب د تدريس لپاره وسيله او معلم د کتاب روح دی ـ همدا ډول چې ملائکې د روح په توسه نازلېږي «يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ...» «پرښتې له خپله امره يوه روح سره [=د هغه له فرمانه هدايت کوونکي وحی] پر هر چا له بنده ګانو يې چې وغواړي [=چې د اخېستلو وړ يې وي] نازولوي...»[نحل ۲ (۱۶:۲)]. او «کل امر» هم کولی شو له درسونو او مختلفو رشتو سره تشبيه کړو چې څېړنه او تدوين او چار ليک يې د ښوونې او روزنې د مرکزيت پر غاړه دی. او په پای کې د ملائکو او روح «نزول» له هرې چارې، کېدای شي له مختلفو علمي رشتو له ساده کولو سره د نوو زده کوونکو د ذهني ظرفيت او درک او فهم د ميزان په تناسب پرتله کړو. لکه څنګه چې رياضيات په لومړنيو ښوونځيو کې په ساده او «نازل شوې» بڼه جمع، تفريق او ضرب، په منځنيو ښوونځيو او ليسوکې د«الجبر او هندسې» په قالب کې اوپه پوهنتون کې په آناليز اوتحليلي..بڼه تدريس کوي چې په واقعيت کې داټول يوه منشأ اوموخه لري (يا دمرتبو لړۍ: نيوټني فيزيک، ذره ای فيزيک(د انيشتاين نسبيت)، کوانتوم ميخانيک، او دبسټيزو ذرو فيزيک).

کېدای شي دا راز تشبيهات او تمثيلات او له قياس او پرتلې څخه استفاده، د قرآن کريم آيتونو ته يو ډول (نعوذبالله) بې احترامي وګڼل شي، خو اتفاقاً دا يوه لار ده چې قرآن يې د نامحسوسو حقايقو د تفهيم لپاره زموږ مخې ته ږدي او له ساده «ضرب الامثال» سره، پېچلې حقيقتونه بيانوي. لکه څنګه چې په پورته ذکر شوو د رعد په سورت پورې اړوند آيتونو کې، د باران له اورښته او په درو کې د سيلاو له جاري کېدو «قدر» څرګندوي او له هاغو خس او خاشاکو ته چې د سيلاو پر مخ حرکت کوي، د حق او باطل مثال وهي او له ټولو نورو آيتونو څخه نور مثالونه د لوستونکو د فهم په تناسب القاءکوي. فرمايي: «کذلک يضرب الله الحق والباطل...کذلک يضرب الله الامثال» الله دغسې د حق او باطل بېلګه وړاندې کوي...الله دغسې بېلګې څرګندوي [رعد ۱۷ (۱۳:۱۷)]. الله له دې چې له يوه ناڅيزه غوماشي مثال ووهي کومه پروا نه لري «إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَنْ يَضْرِبَ مَثَلًا مَا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا...»«په حقيقت کې الله له دې نه شرمېږي چې[د خپلو آيتونو د تفهيم لپاره] له هر څيزه، [حتا] غوماشي يا ترې

زیات د کوم څیز مثال ورکړي...» [بقره ۲۶ (۲:۲۶)]، طیبه کلمه له طیبې شجرې سره مثال وهي «أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ...» «آیا نه وینې چې الله څه ډول یو مثال ورکړی دی؟ یوه په زړه پورې کلِمه [= د شرک له هر راز ککړتیا څخه پاکه او سپېڅلې]، لکه د په زړه پورې ونې [= له هر آفت او عارضې پاکیزه] په څېر ده...»[ابراهیم ۲۴ (۱۴:۲۴)]، د نظر خپلواکي او خپلواک انسان یې له مملوک غلام یا ګونګو سره پرتله کوي «ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَمْلُوكًا لَا يَقْدِرُ عَلَى شَيْءٍ وَمَنْ رَزَقْنَاهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا...» «الله مثال ورکړی دی؛ [لومړی] یو اسیر مریې دی چې د هیڅ کار [د پای ته رسولو اختیار او] وس نه لري، او بل [آزاد وګړی] چې له خپلې لورې مو ښه روزي ور کړې ده...» او «وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا أَبْكَمُ ...او الله د [نورو] دوو کسانو مثال ورکوي چې یو له هغوی [مور زادي] ګونګی دی...»[نحل ۷۵ (۱۶:۷۵) او ۷۶]

له الله غیر د بل په ولایت تکیه کول، دِغِهو له ځالې سره مثال ورکوي «مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا وَإِنَّ أَوْهَنَ الْبُيُوتِ لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوتِ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ» «د هاغو خلکو مثال چې غیر له الله په دنیا کې اولیاء [=تکیه ځای] نیسي، لکه د غنې په څېر دی چې [د ځان لپاره] کور یې جوړ کړ، او پرته له شکه په کورونو کې تر ټولو کمزوری د غنې کور دی، که دوی په رښتینه پوهېدلی.»[عنکبوت۴۱ (۲۹:۴۱)]، او ددې په څېر د مسئلو د پوهاوي لپاره همدا راز په قرآن کې مثالونه ورکوي «وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَذَا الْقُرْآنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ...» [روم ۵۸ (۳۰:۵۸) او زمر ۲۷ (۳۹:۲۷)].

په لاندې توګه هاغو آیتونو ته اشاره کوو چې هغوی ته په پاملرنه «د امر نزول» په بهتره توګه درک کولی شو: «اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ الْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا» «الله؛ هغه ذات دی چې اوه اسمانونه یې پنځولي او له ځمکې یې هم د هغوی په څېر [اوه طبقې پنځولي او] ددوی ترمنځ د کړنو دستور پرله پسې نازلوي، ددې لپاره چې تاسو پوه شئ چې الله پر هر څیز قدر او اندازه [=یو نظام] ګومارلې او د هغه پوهې هر څه رانغښتي دي.» [طلاق ۱۲ (۶۵:۱۲)]

تېرشوي مثال ته په پاملرنه، پوهېږو چې د یو هیواد د ښووني او روزنې د مرکزیت «اوامر» د بې شمېره اداري مسئولینو او مدیرانو د مراتبو د لړۍ له تېرولو وروسته، په پای کې ډېرو لېرو ښوونځیو ته رسېږي. دا ډول نظام او هم غبرګ سیستم، له یو لورې د مرکزي اداري د تشکیلاتو او سازمانیتوب ځواک څرګندوي او له بل لورې د هغه علم او اطلاعات د هیواد د فرهنګي

اړتياو د جزئياتو په اړه څرګندوي. په پورتني آيت کې هم د اوه ګونو آسمانونو او ځمکې د پنځوني په خبر، او «د امر تنزل» د هغوی له منځه (چې د حيات ساتونکی دی)، لومړی پر الهي ځواک او اندازه کونه [(قدير)-والي] دلالت کوي، دويم دپالونکي څښتن علمي احاطه اولاسرسی پرټولوڅيزونو څرګندوي.

«وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَلِكَ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا» «موږ [پرښتې] ستا د پالونکي څښتن له فرمان پرته نه نازليږو، هغه څه چې زموږ مخې ته دي [=راتلونکي] او هغه چې زموږ شاته دي [=تېر شوي] او هغه چې ددوی دواړو منځ کې دي [=حال] يوازې د هغه په واک [علم، اراده او مشيّت] کې دي او ستا پالونکی څښتن [هيڅکله هېروونکی نه دی.»[مريم۶۴(۱۹:۶۴)].

معمولاً هيڅ ښوونکی په خپل سر کوم ښوونځي ته نه ځي، که تعليمي مرکز د ښوونځيو پر اړتياو آګاه وي او د هغه په اداري سيستم کې دا راز نظم برقرار وي چې هيڅ څيز له قلمه و نه غورځي او هېر نه شي، هيڅ لامل نه لري چې په واکمنۍ او فرمان ورکونه کې کوم اړودوړ را منځته شي، او هر څوک پر خپل ميل او خوښه عمل وکړي. د عالم د تدبير په نظام کې هم دا ډول علم او قدرت او يو مالکيت برقرار دی چې کارمندان يې [ملائکې] د پالونکي څښتن له فرمان پرته نه نازليږي. په دې ترتيب که کوم امر نازليږي، سره له دې چې د پرښتو او رسولانو په توسه وي، په واقعيت کې د خدای امر دی چې د هغوی له طريقه نازل شوی دی «ذَلِكَ أَمْرُ اللَّهِ أَنْزَلَهُ إِلَيْكُمْ...»«دا د الله فرمان دی چې پر تاسو يې نازل کړی...» [طلاق ۵(۶۵:۵)]، له دې سره سره د الله امر د جبارانو د امر په څېر د خشم او غضب او د مامورينو، نفساني حالتونو او له ځواک پورته حالتونو ته تابع نه دی، يو حساب شوی امر او د مأمور له « قدر » کچې، اندازې او توانايي سره سم دی: «... وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ قَدَرًا مَقْدُورًا» [احزاب ۳۸(۳۳:۳۸)]. د الله امر د ډېرو انسانانو د امر پرخلاف، له ملاتړه په غير، تشه ادعا نه ده، د هغه امر ايجادي امر دی چې څنګه اراده وکړي سمدلاسه سرته رسيږي:«إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ» فرمان يې داسې دی چې هغه کله يو څيز ته اراده وکړي، چې ووايي: شه؛نو کيږي![يس ۸۲ (۳۶:۸۲)].

لکه څنګه چې کتاب او معلم د تهيه له يوه مرکزه لېږل کيږي او ټول وګړي او عناصر او مادي امکانات د يوې موخې په خدمت کې دي، او د يوګوني مرکزيت په «امر» په واک کې ورکول کيږي، کولی شو ټول له يوه «واحد» «امره» چې هماغه د ښوونې او روزنې عمومي پروګرام او نظام دی، راوتلي وګڼو. د ملائکو او روح او د کتاب د نزول په اړه هم کولی شو دا ډول اړيکي حاکمې وګڼو. هم روح د خدای له امره دی:

«...قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي...» «...ووايه: روح زما د پالونكي څښتن له امره [يوه مقوله] ده ...»[اسراء ۸۵(۱۷:۸۵)]،«وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَاإِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا...» «او په همدې ډول مو له خپله امره يو روح [د لوست وړ متن / قرآن ، په بڼه] پر تا وحي کړ...» [شورى۵۲(۴۲:۵۲)]، «يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ...»«پرښتې له خپله امره يوه روح سره پر هر چا له بنده ګانو چې وغواړي، نازلوي...» [نحل۲(۱۶:۲)]، «...يُلْقِي الرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِ عَلَى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ...» «...روح [=وحی] چې د هغه له امر څخه دی، پر هر چا له خپلو بندګانو چې وغواړي القاء کوي...» [غافر ۱۵ (۴۰:۱۵)].

او هم شريعت او کتاب د الله له امره دي:

«وَآتَيْنَاهُمْ بَيِّنَاتٍ مِنَ الْأَمْرِ...» «او [هم د دين] له امره مو هغوی ته څرګندونې [او لارښوونې] ورکړې...»، «ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِنَ الْأَمْرِ...» «وروسته مو ته [د دين] له امره پر شريعت برابر کړې...»[جاثيه ۱۷ (۴۵:۱۷) او ۱۸]، «...إِذْ قَضَيْنَا إِلَى مُوسَى الْأَمْرَ ...»« هغه مهال چې موږ موسی ته [لس] فرمانونه تېر کړل...»[ قصص ۴۴ (۲۸:۴۴)].

او د قدر شپه داسې شپه ده چې الهي محکم «اوامر» له خپلې متعالي مبدأ څخه د بشر د درک او فهم سطحې ته نازلېږي، چې هغه د خپل قابليت او ظرفيت په حد کې لاسته راوړي، او د اوامرو اجرأ کوونکي وي. هاغه چې پر پيغمبر وحی شوي او د لوستلو وړ مطلب په بڼه او په عربي ژبه مقرر شوی دی، په حقيقت کې له «ام الکتابه» نازل شوی دی چې ځايګی يې د الله په نزد ډېر اوچت او محکم دی. «حم، وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ، إِنَّا جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ، وَإِنَّهُ فِي أُمِّ الْكِتَابِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ»«حا، ميم. سوګند پر دغه څرګندوی کتاب. ببشکه موږ دا لوستونی عربي [متن] ګرځولی، ددې لپاره چې [په حقايقو کې يې] اندنه [او پرې عمل] وکړئ. او ببشکه ددې قرآن [اصل] په اُمّ الکتاب کې له موږ سره ډېر لوړ پوړی، محکم او استوار دی.»._ [د زخرف سورت لومړنې آيتونه ۱ (۴۳:۱)۲،۳،۴]

لکه څنګه چې په پورتني آيت کې څرګندېږي قرآن د الله په نزد «حکيم امر» دی. امّا دا محکم امر(يوه ټوټه له رڼنې پرته) ددې لپاره چې د بشر د درک او پوهې په حد کې راشي، لکه نور چې په منشور کې، په زړه پورې رنګونو تجزيه کېږي، د قدر په شپه د تفريق په بڼه (په ببل ببل، آيت آيت) بدلېږي: «فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ، أَمْرًا مِنْ عِنْدِنَا إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ»« په هاغه [شپه] کې د حکمت هر ډول چارې [له هدايتي چارو، د بشر د هدايتي حافظې د هضم او جذب لپاره] ببلولی [او بيانولی] شي. يو امر زموږ له لورې [نه د دنيا د مادي موضوعاتو له مقولې]، موږ تل [د خپل پيغام د ابلاغ لپاره د رسولانو] لېږونکي يو.»[دخان۴(۴۴:۴)او ۵].

«وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَى مُكْثٍ وَنَزَّلْنَاهُ تَنْزِيلًا »«او موږ دا قرآن چې [ د آیت آیت په بڼه] مو ځانګړی نظم وربښلی، چې په درنګ درنګ، [او تم تم] یې خلکو ته ولولې او په تدریج سوکه سوکه مو نازل کړ.» ـ [اسراء ۱۰۶ (۱۷:۱۰۶)].

«الر كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ »« الف، لام، راء؛ [دا] داسې یو کتاب دی چې آیتونو یې [ د الله په نزد په ام الکتاب کې] یوه ټوټه کوټلې یووالی موندلی، ورپسې د حکیم آګاه [خدای] له لورې [په تدریج سوکه سوکه د ۲۳ کلونو په اوږدو کې د مخاطبینو د پوهولو لپاره] تفصیل ورکړل شوی دی [ په برخو او آیتونو وېشل شوی او تفریق شوی دی]» ـ [هود ۱ (۱۱:۱)]

۴ ـ ملائکې [پرښتې] او روح د قرآن په دریو آیتونو کې له یو بل سره یو ځای راغلي دي؛ د قدر په سورت کې چې د قدر په شپه د دوی دواړو له «نزول» خبره کوي، د معارج د سورت ۴ آیت (۷:۴) چې د جهان په پای کې د هغوی له «عروج» [د نزول برعکس] څخه نښانه ورکوي. او په پای کې د نباء سورت ۳۸ آیت (۷۸:۳۸) کې چې د قیامت په ورځ کې د هغوی له «قیام» څخه د انسانانو د نیاو او قضاوت څخه خبره کوي. د ښه او بهتر پوهېدو لپاره د تمثیل په مقام کې، کولی شو د ښوونځي له مثاله مرسته واخلو، د تعلیمي کال په پیل کې معلمین او د زده کړې امکانات د زده کوونکو په واک کې ورکول کیږي [نزول]، د تعلیمي کال په پای کې ښوونځی تعطیل [ځنډ] کیږي او معلمین ځي [عروج]، د کانکور او پایانۍ ازموینې پر مهال، هاغه پوهه او علم چې زده کوونکو یې له معلمینو او د زده کړې له امکاناتو لاس ته راوړی تحقق مومي، ولاړیږي او ګومارل کیږي [قیام]. ګواکې روح له ملائکو څخه مهمتر عامل دی، حتا ملائکې د روح په ځواک پر پیغمبرانو نازلیږي: « يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ » [نحل ۲ (۱۶:۲)]. له همدې لامله وایي روح له پرښتو څخه پورته ځواک دی. قرآن د اسراء سورت په ۸۵ آیت (۱۷:۸۵) کې د روح په اړه د خلکو د پوښتنې په ځواب کې وایي: تاسو ته [ددې مسئلې د فهم او پوهې لپاره] له لږ او اندک علم پرته نه دی درکول شوی او روح یو «امري» ماهیّت لري.

## سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ﴿۵﴾

دا [شپه] تر سباوونه [برکت، لورینه او] سلامتیا ده.(۵)

### تر سپېدې چاودېدو پورې سلامتي:

ددې سورت په پای کې وایي «یوه شپه له سلامت، رحمت، خیر، برکت او نیکمرغۍ څخه ډکه تر ګهیځه، تر سپېدو چاودیدو پورې» سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ. د قدر شپه هاغه شپه ده چې د

شپې له پیله تر ګهیځه سلام دی او سلامت. هم قرآن په دې شپه کې نازل شوی دی، هم عبادت، او د عبادت، دوعا او له الله سره راز او نیاز او پرله پسې اداء کول یې په هاغه شپه تر زرو مباشتو غوره دي، هم خاص رحمت یې پر بندګانو اوري، او هم پرښتې او روح پر دې شپه نازلیږي او د سلامت او سلامتۍ چاپیریال رامنځته کېږي. چې دا «سلام» په واقعیت کې د «سلامت» په معنا دی. دا شپه د سلام شپه ده په دې معنا چې درود دی؛ پرښتې درود لېږي، له درود سره راځي. او دا د سلام شپه ده [په دې معنا چې] د هاغه چا لپاره چې تري ګټه اخېستل وغواړي، دا شپه له آفتونو، وسوسو او له شیطاني حیلو او دامونو په کلکه لېرې ده. پوهیږو چې قرآن جنت ته «دارالسّلام» ویلی دی. زموږ د دین نوم هم «اسلام» دی چه له«سلام» او «تسلیم» سره له یوې ریښې دی. «اسلام» یعني خپل ځان دې سلامت ورسوي؛ له اسلام سره دی، چې خپل روح له سلامت او «سلم» او آشتي سره آشنا کوي. یا: «ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ آمِنِينَ.» « [هغوی ته ویل کیږي] تاسو په دې [جنت] کې [له هره زیانه او ستونزې پرته] په امنیت او سلامتۍ داخل شئ.» [حجر ۴۶ (۱۵:۴۶)] سراسر په قرآن کې زیاتره خبره له سلم او سلامت ده. وایي پیغمبران راغلي دي چې تاسو ته د سلامت «دارالسلام» د وادي پر لور لاربنود شي. نو د قدر په شپه کې د سباوون تر ختو، د هیڅ ناسم، خطا او اشتباه واقع کېدل امکان نه لري. تر ګهیځه د سپېدو تر چاودېدو پورې سر تر سره سلم او سلامت دی.

په «سلام» د قدر د شپې توصیف چې تر ګهیځه [تر سپېدې چاودېدو پورې] ادامه لري سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ داسې بربښي چې د سلامت او له خیر او برکته ډکو [لیلة مبارکه] آثارو او نښو له لامله دی چې په هاغه شپه کې شتون لري ـ د ښوونځي پرتمینه، له برمه ډکه او نه هیریدونکي ورځ، هماغه د تعلیمي کال لومړنۍ د پرانېستې ورځ ده چې زده کوونکي له نوو او تازه کتابونو او معلمینو سره آشنا کیږي او له دې چې له بریالیتوب سره لوړ کلاس ته اوچت شوي دي او نوي او تازه دوستان یې پیدا کړي د رضایت او خوښۍ احساس کوي، په رښتیا چې کومه ورځ له دې ورځې «سلامت تره» ده؟ـ

نو هاغه څه چې د قدر په شپه پیښیږي، شاعرانه وهم او خیال او تصور نه دی، یو واقعیت دی چې د بې لارو او لار ورکو بیمار ډوله او مالیخولیائي ذهنیتونو څخه لېرې دی، عیناً او پخپله «سلامت» دی، چې سلامت د هغه له آثارو او نښو څخه دی.ـ «يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ»«[دا قرآن چې] الله ددې په توسه هاغه کسان چې د هغه په رضا [او خوښۍ] پسې دي [له بې لاریتوب او د شیطان له شره] د سلامتۍ لارو ته هدایت کوي» [مائده ۱۶ (۵:۱۶)].

او په هاغه شپه دا ډول لاره پرانېستل کېږي، هاغه الله چې سلامت ته بلنه کوي [«وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلَامِ ... ﴿﴾» [يونس ۲۵ (۱۰:۲۵)]، او جنت يې دارالسلام نومولی «لَهُمْ دَارُ السَّلَامِ عِنْدَ رَبِّهِمْ... ﴿﴾» ـ [ انعام ۱۲۷ (۶:۱۲۷)] او پر جنتيانو يې سلام ويلی «سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ﴿﴾» ـ [ياسين ۵۸ (۳۶:۵۸)] او پر هر چا چې د هدايت تبعيت وکړي سلام ګومارلی دی «وَالسَّلَامُ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى﴿﴾» ـ [طه ۴۷ (۲۰:۴۷)]

د ابراهيم (عليه السلام) په داستان کې راغلي دي: څوکسه له پرښتو هغه ته راغلل او د زوی د زېږد زېری يې ورته راوړ او سلام يې پرې وکړ «وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَى قَالُوا سَلَامًا﴿﴾»، وايي: کوم لذت چې ابراهيم (عليه السلام) د دغو پرښتو له سلامه يووړ، له دې ټولې دنيا سره برابر نه وو، اوس بايد پر دې غور وشي، کله چې ډلې ډلې پرښتې د قدر په شپه کې نازلېږي او پر مؤمنانو سلام کوي څومره خوند، لطف، برکت او نېکمرغي به ولري؟

کله چې ابراهيم (عليه السلام) يې په نمرودي اور کې اچوه، پرښتې راغلې او پر هغې يې سلام وکړ، او اور پرې ګلستان شو، آيا د قدر په شپه کې به د دوزخ اور پر مؤمنانو «سوړ» او «سلام» نه شي؟ هوکی، دا دمحمد (صلی الله عليه و اله وسلم) د امت د نېکمرغۍ نښه ده چې هلته پر خليل (عليه السلام) نازلېږي او دلته پر اسلامي امت.

---

۵ ـ د سلام کلمه [په معرفه او نکره بڼه] ۴۲ ځله په قرآن کې تکرار شوې ده؛ سلام له الهي غوره نومونو څخه يو دی [حشر ۳۳(۵۹:۳۳)]، د رحيم ربّ قول دی [يس ۵۸(۳۶:۵۸)]، سلام يعني سلامتي له هر عيب او نقص او شر او آسيب څخه ده، دارالسلام د جنت نوم دی [انعام ۱۲۷(۶:۱۲۷) او يونس ۲۵ (۱۰:۲۵)] او سُبُل السّلام د هدايت لار ده [مائده ۱۶(۵:۱۶)]. د جنت د اهل تحيّت هم سلام دی [ابراهيم ۲۳(۱۴:۲۳)، نحل۳۲(۱۶:۳۲)، حجر ۴۵(۱۵:۴۵)، احزاب ۴۴(۳۳:۴۴)، مريم ۶۲(۱۹:۶۲) او واقعه ۲۶(۵۶:۲۶)].

---

دا يو لړ کليات وو چې د «قدر» د سورت له مطالبو څخه د يو لنډيز په توګه وړاندې شول. چې البته موږ ته څرګنده ده چې توضيح يې پېچلې او ستونزمنه ده. لکه چې په پيل کې مو وويل چې الله تعالی خپل پيغمبر ته فرمايي: مَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ، نور نو زموږ تکليف روښانه دی. په هر حال پر دې قضيه پوهېدل ستونزمن دي. په دې توضيح کې د هاغو موډولونو سره په پرتله، چې په طبيعت کې موجود دي، يولړ توضيحات د يو لړ توضيحاتو کوښښ شوی دی. صدق الله العليّ العظيم.


---

**يادونه: ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته مراجعه شوې ده:**

۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان ليکنه

۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضی مطهري ليکنه

۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب ليکنه
۴ ـ تفهيم القرآن ـ د سيد ابوالاعلی مودودي ليکنه
۵ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرګان
۶ ـ الميزان في تفسيرالقرآن ـ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه
۷ ـ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ـ مولانا محمود الحسن ديوبندي
او علامه شبير احمد عثماني ] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله
۸ ـ پرتوی از قرآن ـ د سيد محمود طالقاني ليکنه
۹ ـ تفسير نمونه ـ د آيت الله مکارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي ليکنه
۱۰ ـ تفسير نور ـ د مصطفی خرمدل ليکنه
۱۱ ـ تابشي از قرآن ـ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي ليکنه
۱۲ ـ تفسير باران ـ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه
۱۲ ـ ترجمه تفسير طبري ـ به اهتمام و تصحيح حبيب يغمائی
۱۳ ـ تفسير ابن کثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي]
اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي
۱۴ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه
۱۵ ـ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ـ ليکونکي : جلال الدين محلي او
جلال الدين سيوطی ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي
۱۶ ـ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح ـ شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی
۱۷ ـ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي کشاف الدين کشاف
۱۸ـ عزيزالتفاسير ـ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ـ مولوي سلطان عزيز (عزيز)
۱۹ ـ صفوةالتفاسير ـ د محمدعلي الصابوني ليکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
۲۰ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدين حکمتيار ليکنه
۲۱ ـ تفسير ديوبندي ـ د مولوي عبدالحنان ليکنه
۲۲ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امين الله پېښاوری ليکنه
۲۳ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي ليکنه
۲۴ ـ تفسير احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه
۲۵ ـ قرآن کريم په پښتو ـ د اجرالدين اقبال ژباړه
۲۶ ـ پديده های جوي ـ د ښاغلي مهندس مهدي بازرګان ليکنه
۲۷ شرحي بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرګان ـ د عبدالعلي بازرګان ويب پاڼه [bazargan.com]
۲۸ ـ د دې ليکنې په پای کې انځورونه د «نظم قرآن ـ عبدالعلی بازرګان» له کتابه اخېستل شوي دي.


بيت المعمور
...و تصريف الرياح و السحاب المسخر بين السماء و الارض لايات لقوم يعقلون
سلام هى حتى مطلع الفجر
كتاب احكمت آياته ثم فصّلت من لدن حكيم خبير
فيها يفرق كل امر حكيم
اولم ير الذين كفروا ان السموات والارض كانتا رتقاً
ففتقناهما و جعلنا من الماء كل شى حى افلا يؤمنون ۲۱/۳۰
ان من شئ الا عندنا خزائنه و ما ننزّله الا بقدر معلوم
و ارسلنا الرياح لواقح فانزلنا من السماء ماءً فاسقيناكموه
و ما انتم له بخازنين ۱۵/۲۱
...فانزلنا من السماء ماءً بقدر
...حتى اذا اقلت سحاباً ثقالاً سقناه لبلد ميت فانزلنا به الماء
انا نحن نزلنا القرآن تنزيلاً
و قرآناً فرقناه لتقراه على الناس على مكث
و نزلناه تنزيلاً لعلهم يتفكرون ۱۰۶/۱۷
والذى نزل من السماء ماءً بقدر
فانشرنا به بلدة ميتاً كذلک تخرجون ۴۳/۱۱
و ننزل من القرآن ما هو شفاء و رحمة للمومنين ۸۲/۱۷
الله نزل احسن الحديث كتاباً متشابهاً مثانى
Catalyst كتليست
اليه يصعد الكلم الطيب والعمل الصالح يرفعه
الدعاء يرد القضاء
الدعاء معراج المؤمن
انا سنلقى عليک قولاً ثقيلاً
نزول
قال الذين كفروا لولا نزل عليه هذا القرآن جملة واحده
كذلک لنثبت به فؤادک و رتلناه ترتيلاً
الم تر ان الله انزل من السماء ماءً
فسلكه ينابيع فى الارض
فانزلنا من السماء ماءً بقدر
فاسكناه فى الارض
...و ما انتم له بخازنين
تورات ۶ رمضان
زبور ۱۸ رمضان
ليلة القدر خير من الف شهر
و انزل من السماء ماءً فاخرجنا به ازواجاً من نبات شتى
شفاء و رحمة للمومنين...
د رحمت د سيلاو ايلول
ولا تعجل بالقرآن من قبل ان يقضى اليک وحيه...
ولا تحرک به لسانک لتعجل به
انا نحن نزلنا القرآن تنزيلاً
البلد الطيب يخرج نباته باذن الله
وجعلنا من الماء كل شى حى...
تنزيل
د اورې په اوږدو کې د دښتې د تندې او اړتيا پر بنسټ
د څښتنوالي او منلو د ظرفيت پر حساب (شأن نزول) او د الله په اذن د رسالت ۲۳ کلونو په اوږدو او راتلونکي تاريخ کې
د دوو طبيعي پديدو پرتله، له دوه ډوله الهي رحمتونو سره
الف: د رحمت د باران نزول .. زمان : په طبيعت کې، منى او توپان او جوّي انقلابونه (د باران پديده)
ب : د وحى د آيتونو نزول په قرآن کې، درمضان مياشت او د قدر شپه ( د وحى او رحمت پديده)

# لیـــــلة القـــــدر

## د قرآن د تنزیل شل کلن دوران

سقف مرفوع
اوچت شوی چت

بیت المعمور، لوح محفوظ (د هستۍ د مبداء د بسیط علم او ارادي مخزن)

د نور نزول – انا انزلنا الیکم نوراً مبیناً
قد جاءکم من الله نور و کتاب مبین
و لکن جعلناه نوراً

د نور رایتونه

سمدلاسه او نابیره یو ځلي

نزول

نزول قرآن بصورت محکم، بسیط و پیوسته

(آسمان دنیا) تنزّل و تقدیر بر قلب رسول اکرم
نزول از «ام الکتاب»، لوح محفوظ

ثم دنا فتدلی ... و هو بالافق الاعلی

سقف دنیا
د دنیا چت

حم و الکتاب المبین انا جعلناه قرآناً عربیاً لعلکم تعقلون و انه فی ام الکتاب لدینا لعلی حکیم ۳، ۲۳
بل هو قرآن مجید فی لوح محفوظ ۶۳/۲۲
فلا اقسم بمواقع النجوم و انه لقسم لو تعلمون عظیم انه لقرآن کریم فی کتاب مکنون لا یمسّه الا المطهرون تنزیل من رب العالمین
والطور و کتاب مسطور فی رق منشور و البیت المعمور و السقف المرفوع

د وحی خاتمه [پای]

- و انه لتنزیل رب العالمین نزل به رح الامین علی قلبک لتکون من المنذرین ۲۶/۱۹۴
- قل من کان عدواً لجبریل فانه نزله علی قلبک باذن الله ۲/۹۷
- و کذلک اوحینا الیک روحا من امرنا ۴۲/۵۱
- انه لقول رسول کریم ذی قوة عند ذی العرش مکین مطاع ثم امین
- و ما صاحبکم بمجنون و لقد راه بالافق المبین
- و ما هو علی الغیب بضنین و ما هو بقول شیطان رجیم.
- والنجم اذا هوی ما ضلّ صاحبکم و ما غوی و ما ینطق عن الهوی
ان هو الا وحی یوحی علمه شدید القوی ذومرة فاستوی و هو بالافق الاعلی
ثم دنا فتدلی فکان قاب قوسین او ادنی فاوحی الی عبده ما اوحی

د قدر شپه (د رمضان په میاشت کې)

انا انزلناه فی لیلة القدر
انا انزلناه فی لیلة مبارکة انا کنا منذرین

بشپړترین لیلة القدر

بعثت (۲۷ رجب)

د تقدیر محور

د تطبیق توجیه
او تفسیر دوران

د قدر شپه
د راتلونکي لپاره
(سپیڅلي امامان،
عالمان او ور پلیونان
د آیتونو تفصیل، تطبیق،
تأویل او توجیه مومي)
فیها یفرق فیها امر حکیم

(پرانیستې حالت، تدریجي او تفصیلي)، د لفظ تورو او کلیمو په بڼه
د قدر شپه د تاریخ په اوږدو کې د انسان له کمال او ودې او روحي
پېښو څخه یوه تابع

د فطرت دوران
(چمتووالی او د فؤاد تثبیت)
کابو ۳ کاله
د ابیطالب په شعب کې کلابندي

حم تنزیل من الرحمن الرحیم کتاب فصلت آیاته قرآناً عربیاً لقوم یعلمون ۴۱/۳
کتاب احکمت آیاته ثم فصلت من لدن حکیم خبیر ۱۱/۲
... تصدیق الذی بین یدیه و تفصیل الکتاب
هو الذی انزل الیکم کتاباً مفصلاً ۶/۱۱۴
و لقد جئناهم بکتاب فصّلناه علی علم هدیً و رحمة لقوم یؤمنون.
لقد فصلنا الآیات لقوم یفقهون، یذکرون، یعلمون
کذلک نفصل الآیات لقوم یتفکرون، یعقلون، یعلمون
قرآناً فرقناه لتقراه علی الناس علی مکث و نزلناه تنزیلاً
و قالوا لولا نزل علیه القرآن جملة واحده کذلک لنثبت به فوادک و رتلناه ترتیلاً

د چمتووالي او ورځینی شپنی خان جوړونې دوران

یا ایها المزمل قم اللیل الا قلیلاً نصفه او انقص منه قلیلاً
اوزد علیه و رتل القرآن ترتیلاً. انا سنلقی علیک قولاً ثقیلاً
ان ناشئة اللیل هی اشد وطاً و اقوم قیلاً
ان لک فی النهار سبحاً طویلاً و اذکر اسم ربک و تبتل الیه تبتیلاً.
یا ایها المدثر قم فانذر و ربک فکبر و ثیابک فطهر و الرجز فاهجر
و لاتمنن تستکثر و لربک فاصبر
انا نحن نزلنا علیک القرآن تنزیلاً فاصبر لحکم ربک
و لا تطع منهم اثماً او کفوراً و اذکر اسم ربک بکرة و اصیلاً
اللیل فاسجدله و سبحه لیلاً طویلاً ۷۶/۲۶

د بعثت او قدر پرتله د انسان د عادي تصورونو له بهیر سره

| د پیغمبر د رسالت دوران | د انسان له اند تر عمله درې ګوني پړاوونه |
|---|---|
| د رجب ۲۷ د بعثت ورځ<br>د فترت دوران د قدر تر شپې پورې<br>۲۰ کاله رسالت د جبرائیل په مرسته | ۱ـ د انسان ذهن او اند ته د ایډیا راتلل<br>۲ ـ د جزئیاتو د تصور لپاره تعقل او تصور<br>۳ – د ذهني ایډیا او طرحې پلي کول |

(د تاریخ په اوږدو کې د انسان تکاملي غورځنګ یا له امر، خلق او حیات څخه یوه
پدیده د انسان د کمال د عطف په نقطو مفصلونو [بندونو] کې)